
ناحقه سزا
(ناول)
Ketabton.com
لیکوال: ډاکټر عتیق الله (ژمن)

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ډالۍ

په لومړي قدم کښې درنو او زړه ته راتیرو لوستونکو ته دي ډالي وي او په ځانګړي توګه ډالي کوم زما محترم او د قدر وړ استاد (عبدالواسع ترین، نثاراحمد معصوم، عبدالرافع ترین، عصمت الله رسولي، ثنا الله سعادت، احمدالله، او عبدالسمیع ترین) چي زه یي لا زیات تشویق کړي یمه.

او مننه کومه زما له درني کورني څخه چي تر نن ورځي یي زما ملاتړ کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دليکوال پېژندنه!

عتيق الله دفضل محمد پوپل زوي عبدالله پوپل لمسي چي په کال ١٣٨٧هـ ش چي د عسيوي تاريخ 2005 ډسمبر شلمه نيټه وه چي مي نړي ته د لومړي ځل لپاره سترګي روڼي کړي.
په يوه غريبه کورني کي لوي شوي يم زده کړي مي په کندهار مشرقي عالي ليسه کي پاي ته رسولي دي او په ١۴٠٢ هـ ش کي له ښونځي نه فارغ شوم.
يو کال وروسته مي په مامون طاهري د روغتيايي علومو انستيتوت کي تحصيلات پيل کړل چي تر اوسه پوري جريان لري.
اصلي کسب او کار مي خياطي وه ټول ماشومتوب او وزګار وخت مي په خياطی کي تير کړي دي او د هغه کسب استاد يم.
لکه څنګه چي ما شوق د درسونو او تحصيلاتو درلودي مګر هغسي ونه شول ځکه چي د کورني اقتصادي حالت منفي وو او د خياطی له لاري مو خپل ضرورتونه او اړتياوي پوره کولي البته زما ورونو ته دي الله جله جلا له خير ورکړي هغو هم زما سره دکورني په مصرف کي مرسته او تعاون کړي دي او زه زما د کورني وروستي ورور او د خپل پلار اخيري زوي يم او تر ټولو په عمر کي کشر يمه.
د شعر شاعري ليکوالی سره مي ډيره زياته مينه او علاقه درلوده ډول ډول ناولونه او کتابونه مي ولوستل تر څو چي دا خواهش مي پيدا شو چي زه هم يو کتاب يا ناول وليکم ځکه ما مي پخپل ځان کي لږ څه استعداد وليدي او غوښتل مي چي ځان وازمويم.
نو اوس چي دا ناول وليکل شو پوره دوه مياشتي او دوی اوني يي وخت ونيوي تر څو چي بشپړ شو په کتاب کي ځيني تيروتني او غلطی شته چي ماته په نظر نه راغلي مګر که چيري هغه څوک چي ډير تحصيل او په ليکوالي کي مهارت ولري نو هغه په ډيره اساني کولاي شي چی زياتي تيروتني پکي ومومي نو دا چي زما عمر اوس نولس کاله کيږي نو استعداد مي هم ډير کم دي تجربه خو هيڅ نلرمه نو ستاسو ټولو څخه د لا تشويق هيله لرمه او په دي اميد يمه چي د ناول د لوستلو څخه خوند او پند واخلي .

والسلام...

په درناوي

ډاکټر عتيق الله ژمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دکتاب په هکله!

(۱) لکه څرنګه چي دا زما لومړي کتاب دي او ددې څخه مخکي مي هيڅ يو ډول ناول يا کتاب ندي ليکلي نو حتماً به ځيني تيروتني هغه که املايي وي يا د الفاظو يا د کرکټرونو د عکس العمل دخبرو ځاي مکان او نوري شتون ولري نو زما لويه هيله داده چي تاسو ټول به تر دي تيروتنو او غلطيانو را تير سي.

(۲) دا چي زما د ناول ليکلو شوق وو نو هڅه مي کوله چي په داسي خوږو او باريکو الفاظو سره يی وليکم چي ويوونکي تلوسه او دلوستلو سره نور هم شوق او علاقه پيداکړي مګر ستونزه دا وه چي ما پدې برخه(ليکوالي) کي مطالعه او څيړنه نه درلوده او نه مي هم هغه د ناول خوږه ژبه زده وه خو بيا مي هم کوښښ کړي دي او دنورو ناولونو لوستلو وروسته مي لږ الفاظ سره سم منظم کړي او کارولي دي.

(۳) بله دا چي په ناول کي مي لهجه ځيني وخت شمالي او ځيني وخت جنوبي کارولي ده او تر ډيره بريده مي کوښښ کړي دي چي په لوړه سويه او علمي لغاتونه ډير وکاروم مګر بيا هم ډيري نيمګړتياوي لري نو د هغه لپاره راته بخښنه وکړي.

(۴) دکتاب د ليکلو څخه هدف: موږ وينو چي ډير وخت ورونه زيات سره خواږه وي او ددوي تر منځ يو نه ماتيدونکی باور او اړيکه وي ديو بل سره کومک او مرسته کول خپله وجيبه او فريضه ګڼي مګر ځيني وخت داسي څوک د دوو ورونو تر منځ راتللاي سي چي ددوي هغه کلک باور چي يو په بل يي لري له منځه يوسي يو دبل سره يي په شخړه اخته کړي چي تاسو به يي په راتلونکي کي ولولي.

(۵) ځيني وخت ناسم پوهاوي کولای سي چي ديو کس نه بلکي دڅو کورنيو ژوند تريخ کړي، هرڅه چي کوو بايد لومړي يي څيړنه وسي په لږ څه خبره باندي اړيکه له خنډ سره نه بايد مخ سي او ډير وخت داسي راځي چي ديوي دقيقي زغم د کلنو پښيماني څخه څوک ژغوري.

(۶) ځيني وخت انسان د احساساتو تر اغيزي لاندي راځي چي دا احساسات يي دي ته مجبوره کړي چي ناسم پوهاوي ته يي ورسوي او دا سوي تفاهم هرڅه له منځه وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحيم

الوتکې کي ناست وم ناڅاپه لاندې لاړه کله چي مي سترګي خلاصي کړي الوتکه مخ په په ځمکه لاندي روانه وه تر غوږ مي يو اواز سو، ستاسو ټولو څخه هيله کيږي چي خپل قمربند چيک او وګوري ځکه چي الوتکه نور ناسته کوي.

ما هم ژر خپل قمربند وکتي ومي ليدل کله چي زه ويده ومه نو قمربند مي لږ څه له اوږې څخه وتلي وو هغه مي سم کړي دخپل څنګ کس ته مي وکتل هغه د ډير وخت سړي وو ږيره يي کوچني کړي وه مګر د الوتکي د کښته کيدولو په وخت کي يي دواړي سترګي ټينګي بندي کړي وي او لاسونه يي دڅوکي په تکيه ګاه ټينګ نيولي وه خوله يي ښوروله خو اواز يي په ما باندې نه بيليدي تر لږ وخت وروسته الوتکه ځمکي کي ناسته وکړه دا نو زما دريم کال وو چي افغانستان څخه بهر په لندن کي ومه او هر دري کلونه وروسته به بيرته هلته ستنيدمه،

ږغ وسو، اوس تاسو کولاي شي چي له الوتکي څخه لاندي تاسي زه هم ولاړ سومه او سر ته مي هغه د بيګونو د ايښوولو ځاي څخه خپل دوه چي يو کوچني اوبل غټ وو بيکونه واخيستل خو يو بيک دومره دروند وو چي د هغه سره کوږ کوږ روان ومه ځکه دامي د خپلي کورني لپاره تحفي راوړي وي چي ټول به ډير ورباندي خوشحاله کيدل، له الوتکي څخه ټرمينل ته راغلم فاسپورټ او ويزه مي کارمند ته ښکاره کړل او هغه هم د اجازی په راکولو سره لاس دلاري طرف ته اوږ کړي زه هم روان شومه ګورمه چي دکاکا زوي احسان مي راته ږغ کوي،علي اي علي ليونيه ودريږه، چي ورته ومي کتل دي ډير په بيړه زما طرف ته روان وو په مخ يي د خوښی نښی وي ما او ده ډير ښه ژوند او ماشومتوب سره تير کړي وو او ازادي مسخري او ګپه مو سره لرله را نږدې سو او په تنظيه لهجه يي وويل بي ناموسه ولي داسي ژر ژر روان يي چاته ګوري هم نه ما وخندل او په غيږ کي مي داسي کلک ونيوي چي په هغه مي ناري وکړي چي بسته ايله مي که خوږ دی کړم ما نور زرو هم ورکړي او لامي لاسونه ورڅخه تاوو کړه ښه ټينګ مي ونيوي بيا مي پريښودي او سترې مشي مو وکړه ويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه نوري خبري او بانډار به بيا وروسته په کور کي وکړو لوي بيک يي راڅخه واخيستي او بيله کوم سببه به يي خندل نه پوهيږم چي ده څه فکر کوي نو مابه هم دده پر خندا وخندل احسان ډير ساده او باادبه انسان وو مکتب مو هم يو ځاي ويلي وو تر ټرمينل ووتو هلته يو ځاي کي يي تيوډي موټر چي نوي يي اخيستي وو تم کړي وو له مانه مخکي روان سو او ګامونه يي چټک کړه دکيلي سويچ يي وواهه د موټر دروازي اتومات خلاصي شوي بيکونه مو ډکی کی کينښودل او موټر کي کښيناستو د موټر دستارکيدو سره سم يخه ايسي هم فعاله سوه احسان راته وکتل او په تنظيه لهجه يي وويل علي په لنډن کي داسي ښايسته او فعال موټران سته؟

ومي ويل نه دا خو يي يواځي ستا لپاره جوړ کړي دي ريسه په دواړو مو په کټ کټ وخندل او موټر ته يي حرکت ورکړي ښه او نارمل رفتار مو کاوه خو ډير افسوس په دې راته ودريدي چي د افغانستان دموټر او نورو وسايلو چلونکو يو هم د ټرافيکو په قانون باندي نه وو برابر چابه موټر سايکل په درى ګزى چلوي او ځوک به په سپينو سترګو ددري رنګه اشارو تير سو او هيڅ يي ددى فکر نه کاوه چي لږ غلطى او تيروتني د يو بل کس د وژل کيدو ځاني او مالي تاوان سبب کيدلاي سي.

خير موږ کور ته ورسيدو هري کوڅي او هر ديوال راته ښه راغلاست ويل ځکه دلته ما خپل ماشمتوب او ډير نور وخت تير کړي وو زموږ کلي اوس هم هغه رقم وو لکه څرنګه چي پخوا وو خو څه ناڅه تغيرات پکي راغلي وو دکور مخي ته يي موټر ودراوه ځکه کور ته موټر نسو ننوتلاي دکور دروازه کوچني او د لرګي دروازه يي درلودل.

دموټر څخه مي خپل بيکونه او سامان را کښته کړل احسان دروازه ټک ټک کړه لږ وخت وروسته دچا دپښو اواز سو دروازه خلاصه سوه او يو کوچني راووتي چي دعمر په لحاظ او زما په اند د پنځو کلنو وو ببر سر خلاص ګريوان او خيرن مخ يي سخت خفه کړم هغه راته وخندل، احسان هغه ته وويل لري شه رزيله ته نه ويني چي بيکونه راسره دي هغه لاهم ولاړ وو او ماته يي کتل زه لږ انديښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



سومه چي څه پېښه سوي ده دي ولي داسي راته کوري وروسته پوشومه چي ما د افغانانو دکلتور او رواج مخالف جامي په تن کړي وي پتلون او شيرټ مي اغوستي ول نو په دې خاطر کوچني ته نابلده او عجيب معلوم سومه،احسان ور مخکې سو او هغه يي يوه بغل ته په لغته وواهه هغه وځغستل احسان وويل دی دې وپيژندي ؟

ومي ويل هو ولي نه داسي بي تربيه او سپين سترګي بيله دي چي ستا ورور وي بل څوک نسي کيدلاي بيا مو هم په دواړو سره وخندل احسان وويل ګوره بيا دي ادبي چکوش راکړي ههه،

کوټي ته ننوتم دتره ښځه مي راته ولاړه شوه لاس مي ور مچي کړي هغی له ډيري خوښی څخه ژړل ويل يي زويه شکر چي په خير راورسيدی، سر مي ټيټ ځوړند کړي ومي ويل دتره ښځي له کومه وخته چي مي مور پلار او ورور دلاسه ورکړي دي نور دا ژوند لا خوند نه راکوي دا هيواد خو ليري خبره ده، هغی لاسونه را څخه تاو کړه په غيږ کي يي ونيولم ويي ويل زويه هغه د آلله ج فيصلي دي موږ بيله دی چی صبر وکړو نور هيڅ نسو کولاي د هو په دود مي سر وښوراوه او هممم مي وکړي شپي او ورځي وي تيريدی په حساب سره شپږويشت ورځي تيري شوي زما بيرته لندن تګ ته يواځي څلور ورځي پاتي وي ،يوه شپه دروازه ټک ټک سوه زه ورغلم دروازه مي خلاصه کړه ګورم چي يو زوړ سړي چي يو کوچني بيک هم ورسره دي ولاړ دي او ويي ويل زويه زه مسافر يمه ديوی شپي ځاي که لري نو ډيره مهرباني به مو وي، زه لاړم او کاکا ته مي وويل چي داسي يو کس راغلي دي هغه ژر ولاړ سو او دروازي ته ورغلی هغه کس يی له ځان سره راوستي کوټي ته يي دننه يوړي ، ځان سره مي وويل الحمدالله چي افغان يم کنه نو لندن کي خو داسي هيڅوک نه پيداکيږي چي پخپل کور کي دي تاته مفته او بی دليله شپه درکړي خير نو دا بيا د افغانانو ميلمه پالنه ده هغه سړي ناست وو لږ وخت وروسته مو ډوډي ورته چمتو کړه کشر د کاکا زوي مي ورته د لاسونو اوبه راوړي جوشي يي مخي ته ورته کيښوده زوړ سړي هم خپل دواړه لاسونه په اوبو لامده کړه دلاسونو څخه يي خړي اوبه توي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي او په خارو ککړ لاسونه يي پاک شول سترخوان مو هوار کړي زه ،کاکا ،احسان او زوړ سړي سترخوان ته کښيناستو دښوروا پيالي يي راوړي او په سترخوان يي کيښودی کاکامي ويل بسم الله کړي ټولو د ډوډي په خوړو باندی پيل وکړي زوړ سړي چي څو مړي وکړي په داسي حال کي چي ګوله يي په خوله کی ژوول او يو لاس يي د ښوروا په پياله کي وو ماته يي وکتل هغه لاس يي همهلته پاتي سو څه ځنډ وروسته يي لاس پورته کړي او ويي ويل، زويه ته دکوم ځاي يي؟

ومي ويل زه د همدا افغانستان يمه.

سړي وويل نه ته لږ څه نا اشنا او ددوي سره توپير لري څهره قد قواره خوي او عادت دي د کليو دخلګو ندي،

ومي ويل هوو زه د افغانستان يمه مګر زه اوس په لنډن کي او سيږمه هلته خپل کار او بار لرمه دلته د يوي مياشتي رخصتي په موخه راغلي يمه او څلور ورځي ورسته بيرته ځمه.

سړي حيران حيران راته کتل په داسي حال کي چي تعجب او خندا يي سره ګډه وه ويي ويل لنډن، بيا يي سر دنه په دودو وښوراوه لږ وخت په فکر کي وو بيا يي وروسته وويل هلکه ته خو افغان يي نو بيا ولي په لنډن کي کار کوي دغه کار چي ته يي هلته کوي چي دلته يي وکړي هم به ځان او هم به نورو ته ګټه ورسوي دا خبره نه وه تيار د توري وارې وو چي زما نفس او وجدان يي زخمي کړل،

ومي ويل هو ستا خبره سمه ده مګر دلته چي لږ هم زده کړي وکړي او د هيواد دجوړولو فکر وکړي نو په څو ورځو کي دي چاره در کوي او له هيواد څخه دي ورکوي،

سړي سر وښوراوه، ويي ويل ښه خير.

د ډوډي په خوړولو يي شروع وکړه تر ډوډي خوړولو وروسته مو چاي ورته راوړي سړي په خندني لهجه مننه وکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر چاي څښلو وروسته سړي ماته را نږدې سو او په خف اواز يي وويل هلکه تا ويل چې زه څو وخت بيرته لنډن ته ځمه؟

ومي ويل دري څلور ورځي وروسته انشاالله ولي بابا؟

سړي لږ څه خاموش شو وروسته يي راته کړه، هلکه زما په لنډن کي يوڅه کار دي که چيري ته نه په تکليف کيږی دا يوه هيله مي راته پوره کړه.

زه په تعجب کي شومه چي يو سوالګر څنګه او ولي په لنډن کي کار لري؟

وروسته مي د ځان سره فکر وکړي چي ددې کس خبري کړه وړه چلند او تجربه ټول د سواد لرونکو خلګو په څير ده نو مي لا هم دده سره د خبرو کولو تلوسه زياته سوه ورته مي کړه

ومي ويل بابا تا ويل چي کار لرم څنګه کار دي ته خو يي راته ووايه چي ممکن دي کنه؟

سړي وويل، هغه زما سره کوچني بيک وو هغه چيري دي؟

شاه وخوا مي وکتل بيک دکوټي پاي کښي پروت وو ور ولاړ شومه چي بيک واخلم خو سړي وويل نه وراره ته يي مه اخله زه پخپله ورځم ولاړ سو او بيک ته کښيناستي په يوه جيب يي لاس دننه کړئ خو څه يي په لاس نه ورغلل بيايي بل جيب ته لاس کړي او لږ څه ورسره کوږ سو لږ وخت وروسته يي د جيب څخه يوه سپينه او ښايسته کيلي را وکښل او د بيک قلف يي پري خلاص کړي په بيک کي يي شيان پورته کښته کول او زه ورته ګورم بيايي يو کتاب چي ډير زوړ او وقايه يي نيمي څيري او نيمي نه وه را وکښي، هلته بيک سره ناست او کتاب ته يي ښه ډير وکتل لکه دا چي يي لومړي ځل وو چي دا کتاب يي وليدي بيا راغلي او پخپل ځاي کښيناستي ويي ويل زويه داکتاب خو ويني ما ويل هو وينم يي ، ويل دا هغه کتاب دي چي زما د ژوند ټوله کيسه پکښی کی ده ته زما اوسني حالت ته مه ګوره چي پدې حال يمه ما داسي وخت تير کړي دي ما وختونه خندولي دي خو مګر ژوند په يوه داسي لاره بوتلم چي هغه لاره د ژور خفګان لا مل سوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښامار خولي ته غورځيدل سوه ته يواځي دومره وکړه چي داکتاب تر حسينی پوري ورسوه او ورته ووايه چي زه دې اوس هم هغه سي په زړه کي ساتم لکه څرنګه چي مي په لومړي ورځ ليدلي وي ستا د حسن جمال او ښايست ډيوه مي اوس هم په زړه کي همهاغسي روښان ده لکه څرنګه چي دي په لومړي ورځ بله کړي وه بيايي سوړ او اوږد اسويلي وکړي له ګونځو او خړو سترګو يي د ملغلرو په څير اوښکي رواني شوي لکه څنګه چي په مازديګر کي لمر دغره شاته ځان پټوي هغسي ده هم د خپلو اوښکو د پټولو هڅه وکړه خو په دې کوښښ کي ناکامه وو او د زړه درد يي له ورايه معلوميده هر چاته دده د څهري په ليدو دا څرګنديده چي دې کس دمجنون په څير مينه کړي ده او د هغی په مينه کي يي ډير سخت زړه مات سوي دي.

خداي سته زه يی هم ډير تر احساساتو لاندي راوستلم په لاسونو باندې مي يي لاسونه ور کيښودل او ورته مي کړه کاکا که څه هم زه تا نه پيژنم او نه دې د ژوند په اړه معلومات لرم مګر زه دې تر هر چا ښه درک کولای سم،سړي چي ځوړند سر نيولي وو اوس يي سر اوچت کړي او په ريږديدلي اواز يي وويل نه بچيه ته ما هيڅکله نسي درک کولاي زما له حالت څخه دي خداي هر کس وساتي، موږ په همدې خبرو کي وو چي دکوم چا د پښو اواز سو سړي ماته هغه کتاب راکړي او ويل زويه دا امانت خامخا ورسومه او زه به يي ادرس هم درکړمه چي چيري يي بايد ورسوي.

کتاب می ورڅخه واخيستي او د ديوال په تاخچه کي مي کيښودي احسان کوټي ته داخل سو ويل يي علي زما پلار وايي چي نور ددې کوټي څخه ووځه ځکه چي دا بابا دلته ارام او په استراحت سره خوب وکړی دهو په دود می سر وښوراوه احسان هم لاړي سړي ته مي وکتل ورته مي کړه نو زه به هلته بيا څنګه ورته وايمه چي چا را استولي يمه سړي وويل هلته به ورته ووايي چي ستا د کلونو کلونو انتظار کوونکي زبير او يو ناکام مبين را استولي يمه دچا سره چي تا په ډير ښه پلان دوکه او فريب وکړي، سمه ده همداسي ورته وايمه سړي وويل دلته يو کاغذ او يو قلم راته پيدا کړه چي زه يي درته ادرس وليکم زه هم پاڅيدم او ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیانو په لټه کي ومه خو د افسوس ځاي داوو چي په کور کي مي هيڅ قلم او کتابچه ونه ليدل بيرته کوټي ته ورغلم ورته مي کړه بابا هغه شيان مي پيدا نکړل خو ته يي راته ووايه زه به يي په خپل تليفون کي نوټ کړم هغه هم ادرس راته ووايي او ما وليکي ورته مي کړه بابا اوس نو په ډاډه زړه ويده شه زه ځمه او د کاکا زوي سره مي ويده‌کيږ.م سړي ته مي يي ځاي او بستر برابر کړل او زه ورڅخه له کوټي نه ووتم او د احسان کوټي ته ورغلم هغه زما څخه مخکي لا ويده وو زه يي هم څنګ ته وغځيدم خو دده خرقي او په خوب کي خبرو يي راته بيخي نفس تنګ کړي ولاړ سوم او ښه مي ورته ځان برابر کړی او يوه ټينګه لغته مي د شا په حصه کي وواهه خو هغه هيڅ عکس العمل ښکاره نکړي تر هغه ورته غوسه سوم چي دا څنګه خوب دي چي په لغته هم نه ويښ کيږ.ي نو يوی بلي لغتي ته مي ځان اماده کړي کله چي مي پښه پورته کړه هغه نعره وکړه صبر صبر څه کوي ناځوانه فکر کوم چا زما د مرګ پيسي درکړي دي ومي خندل نه ياره تا دلته څه حال جوړ کړي دي بل کس خوب نسي درسره کولاي ويل يي ياره زه ويده نه وم يواځي مي ته امتحانولي چي څه کوي مګر تا خو زما ولسوالي راته ويجاړه کړه دواړو په کړس کړس وخندل او په څنګ کي يي ورسره پريوتم تر لږ. څه خبرو کولو وروسته دواړه ويده وو.

پښه مي وښوريده کله مي چي سترګي وغړولي نو په سترګو مي روښنايي شوه د کوټي بلف ګروپ مي په سترګو باندي مخامخ وو د ډيرو اذانونو ږ.وږ. او اوازونه مي تر غوږ. کيده پښه مى بيا وښوريده کله مي چي ورته وکتل هغه زوړ سړي يعني زبير مي پښو ته ناست وو ويل يي ولاړ سه او لمونځ وکه توس مي بيرته په سر واړوه خو سړي توس راڅخه ليري کړي او په لوړ اواز يي وويل ولاړسه او لمونځ وکه ماهم په غوسه سره ورته کړه دا وخت نو اوس د لمانځه دي ولي زه ملا صاحب يمه چي دټولو نه مخکي به لمانځه ته ځمه لږ. صبر وکه خو اوس اذانونه کيږ.ی احسان له هغه تشناب څخه راووتي چي په خونه کي دننه وو او په خندا يي وويل ته اوس هم شکر وکاږ.ه چي اوس يي درباندی غږ. وکړي زه خو يي ستاڅخه مخکي راپاڅولم سړي احسان ته وکتل او له کوټي څخه ووتي احسان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي وکتل دا عجبه سړي دي پخداي ميلمه نو اوس داسي وي چي کوربه دخپل بستر څخه پاڅوي احسان وويل تاسو ولي لومړي دا سړي کورته راوستي فکر کوم چي دي به عصبی مشکل ولري ليونيدي.

ځابنت مهال وو چاي خوړلو وروسته د سړي سره ناست وم هغه وويل وبخښه چي تکليف مي سهار وختي درکړي ماويل خير دي پرواه نلري زبير وويل يوه خبره وکم، هو ولي نه

ايا ته نسي کولاي چي نن يا سبا لنډن ته لاړسی؟

ومي ويل کولاي سم مګر ولي؟

زبير، هغه کتاب ژر ورسوه هيله کومه او تر هغه وخته پوري چي هغه ددی کتاب جواب درکوي زه به همدلته تم شم ستاسو په کور کي.

ددې خبري په اوريدو مي بيخي مخ سور سو ځکه چي دا انسان د زغملو نه وو نو نوري شپي او ورځي به يي څنګه دلته تيرولي؟

ومي ويل نه تا به زه بل ځاي ته يوسمه هلته به تم سي او زه هسي نه هم سبا لخيره روانيږمه او ځمه غرمه وه چي سړي مي له کوره وويستي او د هوټل په لوري روان سوو د احسان موټر مو هم له ځان سره يوړي سړي مي په يوه هوټل کي کښته کړې او يوه کوټه مي ورته د څو ورځو لپاره په کرايه ونيوه د ډوډي او هرڅه مصارف يي ما ورکړه او زه ورڅخه د سياحتي شرکت په لوري لاړم يو ټکټ مي دسبا لپاره وکړي چي سهار په شپږو بجو باندي پرواز وو.

وخت تير شو او سهار سو ماښام مي لا خپل جامي او نور اړين توکي په خپل بيګ کي ايښي وو تر لمونځ کولو وروسته مي بيک واخيستي او د کاکا کوټي ته ورغلم هغه لمونځ په ناسته سره ادا کاوه ځکه چي پدي ورځو کي هغه ډير سخت ناروغ وو کله چي يي لمونځ پاي ته ورسوي نو ور مخکي شوم او د خداي پاماني لپاره مي ورته لاس مچي کړ هغه په سر لاس راکيښودي او ويي ويل زويه په ډير ناز مو پاللي يي نه پوهيږم چي هلته به ته څنګه ژوند تيروي ومي ويل نه کاکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته زه ډېر خوښ او راحته یم بیا مي د تره ښځه داحسان مور راغله دټولو سره مي خداي په اماني وکړه او له کوره د احسان سره ووتم هغه موټر را روان کړي او د هوایي ډګر په لوري وخوځېدو.

څه وخت وروسته هوایي ډګر ته ورسیدو.

احسان هم رخصت راکړي او لاړم طیارې ته وختم لږ وخت وروسته پرواز وسو.

لندن ته ورسیدم او خپل دملګرو سره مي ولیدل ټول ډېر خوښ او خوشحال شوه زه هم ددوي په لیدو پسي خفه شوي وم په سبا مي یوه ملګري ته هغه کتاب ښکاره کړي چي هغه زوړ سړي راکړي وو ومي ویل یاره که دې دا کتاب دې ادرس ته ورسوي نه به دې زه ډېر منندویه سمه هغه وویل نه هیڅ ستونزه نسته کار به وسی خو ادرس چي یي کله ولیدي نو مخ یي لږ څه تغیر وکړي ماته یي وکتل ویل یي دا خو همدلته نږدې دي راځه چي دواړه ورسو ماویل اوس؟

ویل هوو اوس ولي ته نه ځي؟

نه، ځمه مګر زه لږ څه ستړي یمه ویل یي راځه یاره اوس به ورسو سباته ډېر کارونه لرو زه هم بیله بلي نیوکي ورسره لاړم یوه ټکسي ته وختو او لږ مزل وروسته یوې وداني ته ودریدو کله چي د ټکسي څخه کوز شوو نو ملګري ته مي زنګ راغلي د تلیفون قطعه کولو وروسته یي وویل یاره زه خو نه شمه کولاي چي درسره لاړ شمه بیخي ضروري کار راته پیښ سو نو ته ورسه همدغه کور دي یواځي دروازه یي بنده ده.

ومي ویل سمه ده ته ورسه زه یواځي ورځمه دې لاړي زه د کور مخي ته ودریدم ګینټي مي ور ووهل لږ وخت وروسته یوه انجلي چي شل کلنه معلومیده دروازه راته خلاصه کړه کله مي چي ولیدل نو هغه ډیره عصري او غربي معلومیده فکر مي وکړي چي ادرس مي غلط کړي دي ومي ویل ایا دحسیني کور همدادې؟

هغې په حیرت راته وکتل لکه چي پښتو یي زده نه وي بیا مي په انګلیسي ورته وویل ایا د حسیني کور همدادي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې چي زيړ وريښتان شنې سترګي سپين پوستکي نري ګوتي اوږد قد درلودی وويل  هوو بلکل تاسو سم ځاي ته راغلي يي مکر زما له مور سره څه کار لري؟

ومئ ويل ستامور؟

هو بلکل هغه زما مور ده.

هيله کوم ما له هغې سره مخامخ کړه ما يوڅه ورته راوړي دي له افغانستان څخه.

سمه ده راځه .

کور ته ورغلم په سراي کي يي يو لوي حوض او د حوض شاخواه ټول ونی او ډول ډول ګلان کرل شوي وو ښکلي بويان ول او دهليز ته چي ننوتم ګرمه هوا مي غوږونه تاوده او ګرم کړل پو شوم چي دلته ايسي يا بخاري هم لګيدلي ده يوه سپين سرې بوډي چي په کوچ کي ناسته وه په فکر او سوچ کي يي د ګلونو او ونو طرف ته کتل ورغلو انجلې وويل موري، هغې ورته وکتل څه دی؟

عجبه خو داوه چي مور يي هم انګليسي ويل .

انجلی زه ورته وښودلم چي دا هلک ستاسو لپاره له افغانستان څخه يو څه راوړي دي ورسره ووينه.

هغه هم را ولاړه سوه او نږدې راغله ومي ليدل چي د ډير عمر په درلودلو يي بيا هم ښايست له لاسه ندي ورکړي غټي غټي عينکي يي په سترګو کړي وي اوږده خال داره کالي يي اغوستي وه او پاسته نرم څپلي يي په پښو کړي وي نوکان يي اوس هم رنګ کړي وو په امصا باندی يي تکيه کول ټيټه ټيټه او په ملا باندي کښنه راغلل او ويي ويل زويه څشي غواړی او له ما سره څه کار لري؟

ومي ويل ايا تاسو اغلي حسينه ياستي؟

هوو زه پخپله يم

تاسو پښتنه ياست ؟

په پښتو يي وويل هوو پښتنه يمه مګر ته ولي داپوښتني کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه ښه پښتنه يي هيڅ نه بس همداسي مي پوښتنه وکړل ويل راسه هلته په کوچ يي کښينولم او لور ته يي وويل يوه کاپي ورته راوړه .

ويل اوس نو ووايه چي ته څوک او ولي دلته په ما پسي راغلي يي؟

ومي ويل زه زبير را استولي يمه.

په حيرت يي وکتل کوم زبير؟

زه نه پوهيږمه چي ته يي پيژني او کنه مګر هغه ستاسو لپاره دا يو کتاب را ليږلي دي هيله کوم دا واخلي کتاب مي ورته وړاندي کړي.

هغې کتاب راڅخه واخيستي او ويي ويل دا نو څه دي؟

زه لږ غوسه سوم ومي ويل اااه زه نو څه پوشم چي څه دی خو ستاپاره يي راکړي دي.

کله چي يي کتاب خلاص کړي لږ څپي يي واړولي سترګي يي رډي رډي را وختي او کتاب يی لا نور هم ځانته نږدې کړي او په ويلو يي لګياه شوه

لور يي کاپي راته راوړه مخي ته يي راته کيښوده مننه مي ورڅخه وکړل او انجلي لاړل .

ومي ويل توروري زه نور ځمه ماته اجازه راکړي

هغې وويل زه پښتو ليک سم نسمه لوستلاي هيله کومه ته يي لږ څه راته ويلای شي چي څه پکښي ليکل سوي دي زما سترګي هم کمزوري شوي دي او ډير زيات وخت کيږي چي پښتو متن مي ندي لوستلي اوږد اسويلي مي وويست او کتاب مي ورڅخه واخيستي سمه ده لږ څه به درته ووايمه.

د کتاب په لومړي صفحه بسم الله الرحمن الرحيم ليکل سوي وو بلي صفحي ته يي متوجي شومه هلته ليکل شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

د ښوونځي څخه په ښو نمرو باندی فارغ شومه او کور ته راغلم. کله چې کور ته ورسيدم ددې مخکي چي زه خپل زيری پر پلار جان او نورې کورني باندي وکړم نورڅه مي وليدل هغه داچي د مشر ورور او پلار مي لفظی شخړه شروع وه او پلار مي مشر ورور چي طاهر نوميدي ډير په بدو ردو ياداوه او ورور مي هم هيڅ د پلار د پلارګلوي حق نه ورکاوه چي څه يي ورته په خوله راتله هغه يي ويله.

زه هيڅ حيران نه شومه ځکه چي دا ددوي لومړي ځل نه وو دا زموږ د کورنۍ ورځني حال وو.

د دروازي څخه مي پر ورور باندې غږ وکړي طاهره، بس که نور طاهر هم زما په ليدو نرم شو ځکه چي زه مي ټولي کورنۍ ته ډير زيات ګران ومه او ډير قدر او عزت به يي راکاوه، ورور مي لاړي او کوټي ته ننوتي پلار مي لاهم ورپسی کنځلي او سپکي سپوري ويلي، له پلار مي تير شومه او کوټي ته ورغلم، ګورم چې ورور مي راته خاندي او وه يي ويل، ته راغلي!!!

هله نوو زيری راباندي وکړه چي طبيعت مي لږ ښه شی.

ما ورته وويله وروره زه نو کله ناکامه شوي يمه؟

وه يي ويله، نه نو ځکه خو زما د زړه ټوټه يي.

طاهره زه په خپل صنف کي څلورم نمره شومه او په خير سره نور فارغ شومه نور نو اجازه راکړه چي ستا سره يو ځاي روغتون لاړشمه او هلته به زه هم کار وکړمه.

ښه سمه ده زه به سهار ستاسره يوځاي ځمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ومي خندل او خوشحاله شومه نو له کوټي يي راووتم او خور مي زينب نوميده ورته ږغ مي کړ زينب! زينب!

ويل هااا څه وايي؟؟

ډوډي راته تياره که چي د غرمي يوه بجه شوېده راته يي وويل هممم ستا له ويلو پرته مي هم تياروله او دادي سترخوان بابا ته ور وړمه نو ته هم راشه.

لاس مي پر خيټه باندی تير کړي او په منډه ورغلم کوټي ته چي لا نه وم ننوتي چي د لوبيا بوي مي تر سږمو ورسيدی لا مي نور هم ګامونه چټک کړه او کوټي ته ننوم.

هلته يو کوچني سترخوان هوار وو پلار او ورور مي دواړه ورته ناست وو خو يو اوبل ته يي د سترګو تر کونجو کتله.

پلار مي راته په توند نظر وکتل او وه يي ويل، هااا د خان صاحب زويه راغلي، هيڅ مي ونه ويله او سترخوان ته کښيناستم زينب هم راغله او د ډوډي په خوړلو مو شروع وکړه څو مړي مو لا نه وي کړي چي دروازه وټکيده، طاهر وويله هلکه ته ورسه پدې وخت کي څوک دي؟

زه هم پاڅيدم او ورغلم دروازه مي خلاصه کړه ګورم چي د ګاونډيانو د کور سپين ږيری راته ولاړ دي او په قهر راته ګوري، ورته ومي ويله السلام عليکم کاکا.

تندې يی نوري ګونځي هم وکړي او په تيزه لهجه يي وويله سلامونه دی در ګرځوه هغه زما پيسي راته راکړی چي تيره مياشت مو راڅخه په قرض اخيستي وي، وه مي ويل ته لږ صبر وکه اوس راځمه دروازه مي برته کړه او په منډه کوټي ته راغلم ورور ته مي وويله طاهره هغه عمر کاکا خپل پيسي غواړي ويل د څشی پيسي غواړي؟

هغه تيره مياشت چي بابا ناروغه شوي و نو مونږ خو د عمر کاکا څخه پيسي اخيستي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



طاهر، ښه ښه رايادې شوي لږ صبر وکه لاس یی جیب ته کړي او دري سوه يي راکړي او وه يي ويله دا څومره بخيل سړي دي پخداي دا وخت نو اوس د راتګ وو چي دي راغلي دي؟

خير خو دروازي ته ورغلمه او پيسي مي ورکړي مکر لايي هم رډي رډي راته کتل زه هم ورته ولاړ وم، ترڅو چي خوله یی په خندا سره ويته کړه او وه يي ويل خير يوسي زويه خير يوسي اولاړي.

ما هم دروازه برته کړه او کوټي ته راغلم پلار مي ډوډوي خوړلي وه او خپلي کوټي ته تلي وو زه مي د ورور سره کښيناستم او په ډوډي خوړلو مو پيل وکړي، ورور مي وويل،زبيره! ته مطمئين یی چی سبا له ماسره کار ته لاړشی؟

هوو وروره، غواړم نور ددې کار څخه چی ټوله ورځ موټران مينځم مخه ښه وکړمه ستا سره به په روغتون کي يمه او ټوله ورځ به يوځاي يو.

راته يي وويل، هلکه هلته خو زه ډاکټر نه يمه او نه هم کومه بله واسطه لرمه زه يو صفاكار يمه او ته به هم يو صفاكار یی نو دا ماته هيڅ خوند نه راکوي چې کوم څوک پر تاباندې امر وکړي د خبرو په منځ کي يي ور ګډ شوم او ومي ويل پرواه نلري زه پدې بل کار کې هم ډير ستري او د نورو غلام يمه ماته هيڅ توپير نلري.

طاهر، سمه ده اوس لاړ سه ويده سه سهار دی بيا وختي را پاڅومه سمه ده؟

ما هم د هوو په دود سر وښښوراوه ورور مي ولاړ شو او خپله بستره يي هواره کړه ورباندي څملاست.

لږ څه په غور مي ورته وکتل ډير مي ورباندي زړه وسوځيده ځکه چي دده رنګ او بدن بيخي خراب شوي وو شونډان يي وچ او د مخ پوست یی بيخی سوځلي غوندي وو.ډوډي مي وخوړه او ګروپ مي ګل کړ زه هم د طاهر څنګ ته په بستره باندې وغځيدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب مي بند کړي او هغي بوډي ته مي وکتل نور نو بس دي دادي ستا لپاره مي لږ څه درته وويلي.

هغي ويل هيله کومه نور هم ووايه زما د لور هم پښتو زده نده چي راته يي ووايي نو ته يي نور هم ووايه هيله کومه زه به درته ډوډي هم غرمه تياره کړم.

زړه نا زړه مي ورته وويل سمه ده په کتاب کي مي هغه ځای پيداکړي او کيسي ته مي دوام ورکړي هلته ليکل شوي وو.

دسهار د اذانو لږ وخت شوي وو چي طاهر راباندي غږ وکړ، هلکه پاڅه لمونځ دې وکړه پاڅه پاڅه نوو...

زه هم له خوبه رابيدار شومه سترګي مي وغړولي تيز ګروپ مي په سترګو باندې مخامخ وو ژر ولاړ شومه اودس مي وکړي او په لمانځه باندی می شروع وکړه.

لمونځ مي وکړ او د کار لپاره مي جامي په کڅوړه کي واچولي او له ورور سره يوځاي روان شومه تر څو چي روغتون ته ورسيدو.

ورور مي وويل زبيره ته صبر وکه زه به د روغتون د مسول سره خبري وکمه چي دې مي را وستلي دي.

ماهم د هوو په دود سر وښوراوه،لږ وخت وروسته راغلي او راته يي وويل راځه ته يي قبول کړی ما وويل وروره داسي ژر يی څنګه ومنل دلته خوبه ډير کسان د دندې لپاره راځي؟

راته يي وويل ما مخکي هم ستا په باره کښی ورته ويلي وو نو اوس مي يواځي دومره وويل چي زبير مي دکار کولو لپاره راوستلي دي هغه هم ومنل او بس.

زه يی د کار کوونکو کوټي ته وروستلم او هلته مي جامي واغوستلي او په صفايي کولو مي شروع وکړه يو کس د لارښوني لپاره راسره وګمارل شو تر غرمي پوري مي ډير زيات کار وکړي او ډير ستومانه شوم د غرمي ډوډي د خوړلو وخت شو تر ډوډي خوړلو وروسته مي بيا په کار کولو پيل وکړي تر څو چي ماښام لس بجی شوي او نور يي موږ ته رخصت راکړي زه او ورور مي هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکسی کی د کور لوري ته روان شو موټر روان وو او لاره يي لنډوله چي زه خوب وړي ومه کله چي کور ته ورسيدو ورور مي راباندی غږ وکړي زبيره پاڅه کور ته ورسيدو.

سر مي پورته کړ ګورم چي موټروان هم په حيرانتيا راته ګوري نو له موټر څخه ښکته شوم او کور ته لاړو ورور می راته خندل او وه يي ويله کار کول خو آسانه ندی وروره زه هره ورځ داسي او تر دې ډير کار کومه ورته مي کړه هممم داصحي ده مګر ما تر دې مخکي هم کار کړی دي د کار کولو سره پوره بلدتيا لرمه خو نن نه پوهيږم چي ولي داسی حالت سره مخ سومه...

خير ډوډي مو وخوړه خور مي وويله ورور جانه د کار لومړي ورځ دې څنګه وه ډير خو ستړي شوي نه يي؟ ومي ويل نه لږ څه ستړي شومه د نورو ورځو په تيريدو سره بلد کيږمه کار سره.

نور نو ورځي يو ډول تيريدي هره ورځ به سهار زه او ورور مي کار ته تلو او ماښام ناوخته به بيرته کور ته راتلو هيڅ ستونزه نه وه او خوشحاله ژوند مو درلودي که څه هم اقتصادي حالت مو ښه نه وو مګر روحي او معنوي ستونزه مو هيڅ نه درلوده.....په دې کی څلور مياشتي تيري شوي...

يوه ورځ مي پلار د ګاونډي سره چي عمر نوميده لفظی شخړه کړي وه موږ چي ماښام کور ته راغلو پلار مي ويده وو موږ هم لږ وخت ناست وو او يو له بل سره مو خبري اتري وکړي تر څو چي دروازه وټکيده د دروازي د ټکيدو سره يو لوړ او ريږديدلي اواز هم تر غوږ کيدی چي ويله يي راووځه بی غيرته چيری پټ يي؟

پدې وخت کي مي ورور هم راووتي او ويل يي څوک دي دا ناولي چي ښکنزل کوي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصه که دروازه دا بیغیرته چاته وايي ؟

ما هم دروازه خلاصه کړه ګورم چي عمر ګاونډي ولاړ دي او يوه برچه هم ورسره ده کله مي چي دروازه خلاصه کړه نو سمدستي يي راباندي د برچي واري وکړي ما ورڅخه د ژغورلو هڅه وکړه خو څرنګه چې واريې يی ناڅاپه وو نو په راسته تشي کي پړي ولیګدم او نس مي ټوله پهويني باندې لوند سو خو ما هیڅ درد نه حیس کوي ځکه چي په توده وينه کي ومه ورور مي راغلي او د عمر لاس يی ونیوی او د هغه په وهلو يي شروع وکړه زه هم هلته کښیناستم او سر مي راباندی وڅرخيده يواځي مي د پلار غږ واوريدي چي طاهر ته يي ويله مه يي پريږده مړ يي که درڅخه خلاص نشی.

نور په هيڅ پونشوم او بيهوشه شومه.

کله چي مي سترګي خلاصي کړي نو خور مي راته ناسته وه او سر يي په دواړو زنګنو باندې ایښی وو د سلګي غږ يی ما اوريدي هغی ته مي کتل فکر مي کوي چي خوب وينم هغی ته مي د غږ کولو هڅه وکړه خو هيڅ مي له وسه پوره نه وه خو په ډير زحمت مي سر د بالښت څخه را پور ته کړي او ور ږغ مي کړه زينب زينب!

هغی په ډيره ويريدونکي څهره راته وکتل او تر غټو او ښه ورو سترګو يي اوښکو فواري وهلي په ژړه غوني اواز يي وويل زبيره ته ښه يی رانږدی سوه او تر لاس يي ونيولم پورته يي وکتل او وه يي ويل شکر خدايه چي زبير دی ښه کړي، زما را ياد سوه چي لږ مخکي څه سوي وه نو د ولاړيدو هڅه مي وکړه خو په نس کي مي شديد درد حس کړي چي ومي کتل نس باندې مي پټي لګيدلي وه او پانسمان سوي ومه ومي ويله طاهر او پلار مي چيري دي؟

زينب يواځي راته برګي برګي کتل او ژړل يي، په غوسه مي ورته وويل راته ووايه دوي چيري دي؟

د هغی ژړا نوره هم په زوره سوه او ويل يي هغه دواړه په حوزه کي بنديان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه، مګر ولي هغوي څه کړي دي؟

ویل یي ،پلار دی عمر ووژی او پولیسو هغه حوزی ته یوړي او طاهر هم هلته ورسره لاړي چي پلار مي راولي او ماته یي وویل چي زه پر تا باندي پام وکړم...

غبږ اسویلي مي وکړي افففففف پلاره څه دې وکړل یو دا کار دی پاته وو نور خودي هر غم راته راوړي وو...

ددې خبر په اوریدو ګنځ شوم او یوه شیبه مي له ځانه سره فکر وکړي چي ایا زه خوبه خوب نه وینم سم ارام ژوند مو وو مګر اوس داڅه وسول.

زینب ته مي وویل زما تلیفون چیري دي هغی وویل زما څخه نسته او نه مي هم لیدلي دي خو دهغي تلیفون مي ورڅخه واخیستي او طاهر ته مي زنګ وواهه څو شیبی وروسته یي ځواب راکړي په بیړه مي ورته وویل وروره چیري یي څنګه یي پلار مي ښه دی؟

طاهر وویل ارام اوسه هرڅه سم دي مور. دحوزی څخه اوس روغتون درځو ته خوبه ښه یي؟

ومي ویل هوو زه لږ څه زخمي یمه خو ژر جوړیږمه مګر زینب وویل چي تاسو بندیان یاست او عمر مو وژلي دي.

طاهر وویل چې داخبري له نږدې څخه کوو مور. اوس په لاره کي یو او اړیکه یی پریکړه.

ددوی تر رارسیدو پوري ډیر نا ارامه ومه ډول ډول فکرونه مي ذهن ته راتله کله به مي وویل چي زینب راځه دټولي کورني سره وتیښتیږو خو هغی به ویل چي ته صبر وکه چي پلار او ورور مي راسي نو یوځاي به پریکړه ونیسو مور. همدا خبري کولي چي طاهر دوي راورسیدل او ږغ یی وکړي زبیره ته څنګه یی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ومي کتل ډېر احساساتي او نارامه وو ومي ویل چي ښه ښمه وروره تاسی څه وکړل هغه مو ووژي ولي بله لاره نه وه تاسي اوس د پولیسو څخه تیښته وکړه؟؟؟

طاهر، چپ سه یو ځلي خو زما خبري واوره، پلار مي وويل عمر موږ نه بلکي د هغه خپل زوي ووژی.

زبیر، څنګه دا تاسي څه وایاست هغه به ولي خپل پلار وژني؟

هغه نه وژی خو ورڅخه ووژل شو

ومي ویل افففف پوره کیسه ژر راته وکړي چي څه او څنګه وسول؟

طاهر وويل، کله چي زه او ته را ووتو او عمر په تا باندي د برچي واري وکړي نو ته پر ځمکه ولويدي او بي هوښه سوي نو زه هم په منډه سومه او عمر ته مي سوکان ونیول پدی وخت کي بابا هم د کوټي راووتي او عمر ته يي په ښکنځلو او وهلو پیل وکړي مګر د عمر زوي چي کله موږ ولیدو چي په دواړو مو دده پلار وهي نو کور ته لاړي او دهغه ځاي څخه يي وسله راوړله او په بابا يي ډزی وکړي مګر موږ نیکمرغه وو چي پدی وخت کي عمر دبابا پر لوري منډه کړه او عمر په مرمی ولګیدي او ځاي په ځاي يي ساه وختله او مړ سوو نو دعمر زوي په خپل پلار بوخت سوو او زه لاړم پولیسو ته مي خبر ور کړي بابا ته روغتون ته دزینب سره راوستلي او اوس ټول یوځاي یو پولیسو دعمر زوي ونیوي او موږ ازاد یو ځکه چي لومړي ګوزار هم ددوي له طرفه وو او دوهم هم مګر پولیسو ویله چي سبا ته به ټول اظهاراتو ته راسی.

ومي ویل چي ښه نو اوس څه کوو؟

پلار،مي هیڅ نه بس خپل عادي ژوند ته دوام ورکو او بس.

طاهر په ډېر تیز نظر ورته وکتل او په ډېره غوسه یی وویله دا اوس ژونددی دهغه کورني به موږ ته د قاتلانو په نظر ګوري او موږ به نو پر داسي ژوند څه خوند واخلو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زينب وويل هوو پلاره طاهر ښه خبره کوی زما نظر دادي چي موږ بايد ددی کلي يا ښار څخه لا ووځو

پلار، هغه به خداي خير کړي بيا به يو چم وکو، ومي ويل پلاره ته څنګه داسي په ارامي او اطمينان سره خبري کوي ته هيڅ انديښمن نه يي؟

پلار، چي هرڅه کيدل هغه خو اوس وسوه نور نو ولي غم کوو، پلار مي همدا خبري کولي چي د روغتون د کوټي دروازه خلاصه سوه ټولو د دروازي په لوري وکتل ګورو چي يو قومندان دڅو نورو عسکرو سره يوځاي راغلي او ويي ويل دننه درتلاي سو پلار ويل هوو راځي پخير راسي

هغه هم راغلي او پلار ته مي مخامخ کښينستي.

عسکر، تاسو ته ډير تکليف نه درکومه کنه نو نو بايد تاسو ټوله حوزي راغلي وي او هلته مو ټوله معلومات راکړي وي مګر زه ستاسي په حالت پوهيدلاي سم مګر زموږ څخه قانون د هرڅه ثبوت غواړي او دا زموږ مسووليت دی چي خپله دنده په پوره ايمانداری سره سرته ورسوو.

نو ته اوس راته ټوله کيسه وکړه چي څه پيښ شوي وو؟

پلار مي هم په ريږديدلي او کرار اواز ورته دپيل نه کيسه شروع کړه او هرڅه چي تير شوي وو هغه يي بيان کړه د قومندان سره يوه وړه کتابچه وه په هغه کي يي هرڅه نوټ کوله تر ډيرو پوښتنو او ځنډ وروسته يي وويل سمه ده اوس نو ما پوره معلومات وکړه نور نو تاسو ته نه مزاحم کيږو ولاړ سو او عسکر يي له ځان سره روان کړه دکوټي څخه ووتي پلار مي غټ اسويلي وکړي او بيا يي ماته وکتل زبيره ته اوس څنګه يی کور ته تللاي سي ؟

ومي ويل هو زه ښه يمه پانسمان کړي يمه طاهر وويل زه ځمه او ستا ټول کارونه لکه فورم پيسي نسخي او نور ټول کارونه خلاصومه او دهغه وروسته به کور ته لاړ سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ هم تر څه وخت وروسته کور ته راغلو هلته ځيني ځايونو کي ويني وي او يو ديوال باندي د عمر ويني پاشلي سوي وي پلار مي ژر موږ کوټي ته راوستلو او دې لاړي هغه ويني يي ټولي پريمنځلي ماښام سوو تر ډوډوي خوړولو وروسته ټول ويده شوه مګر زه او طاهر لاهم ويښ وو او چوف ناست وو هيڅ مو د خبرو کولو لپاره نه درلوده په نننی ورځي باندې مو فکر کوي تر څو چي طاهر وويل زه سبا ځمه او د بل کور د نيولو معلومات کومه داځاي بايد پريږدو ماهم ورته د هوو په دود سر وښوراوه او دکوټي پاسني ديوال باندي مي سترګي ګنډلي يي تر څو چي خوب وړي وم...

کتاب مي بند کړي ځکه کي ماته زنګ راغلي، ځواب مي ورکړي زما ملګري جون برټ وو هغه ويل چي ژر راسه کار ته ښاغلي ډير په غوسه دي چي ولي دي کار ته نه راځي؟

ما هم ورته وويل چي همدا اوس درځمه صبر وکه.

کتاب می حسيني بوډي ته ورکړي او ورته ومي ويل چي زه اوس ځمه کار راته پيدا شو.

هغی وويل چي سمه ده ورشه مګر سبا به بيا راشي.

ما هم ورته وخندل سر مي وښوراواه او ورڅخه روان شومه، خپل کار ته راغلم ما په يوه ساختماني شرکت کي کار کوي خپل په کار مي شروع وکړه تر مازديګره پوري بيا کورته لاړم هلته زه يواځي اوسيدم په کوټه کي ناست وم واوره هم ښه په زور سره اوريده د زبير کيسي ډير نارامه کړي ومه غوښتل مي چي هغه کتاب وو ايم خو هغه مي حسينی ته ورکړي وو.

سهار وختي له خپل وخت څخه پاڅيدم او ژر مي د حسينی کور ته ځان ورساوه،دروازه مي ووهل بوډي راته راغلل کور ته يي دننه بوتلم ما هم له واوري څخه اوړ.ی او سر وڅنډل او کښيناستم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسيني وويل څه شوي دومره وختي څنګه راغلي ومي ويل نن کار ته نه ځمه غواړم چي هغه کتاب پوره ووايمه او بيا لاړ شمه هغه ډيره زياته خوشحاله شوه د سهار ناري مو وکړي حسينه لاړه او کتاب يي راوړي ما هم د کيسي په ويلو سره پيل وکړي ليکل شوي وو.

موږ هم لاړو او ددی کلي او سيمی څخه بلي سمي ته مو خپل کور او سامان ټول نقل کړه او کډه مو وکړه دا کور مو تر هغه پخواني کور هم ښايسته او هم روغتون ته نږدې وو او په پښو مو هم کولای سوه چي روغتون ته لاړ سوو نور نو بيا زموږ عادي ژوند شروع سوو او له يوي نيکمرغي بلي نيکمرغی ته روان وو ...

يوه ورځ دخوبه پاڅيدم لمونځ مي ادا کړي زه او طاهر دواړه يو ځاي په قدم وهلو او پياده د روغتون په لور روان سو ترڅو چي روغتون ته ورسيدو او خپل کار تهمودوام ورکړي که ګورم چي يوه ښځه په داسي لباس کي را روانه ده چي سترګي يي ښکاره او ماسک يي اچولي وو په هغي باندي دشا له طرفه د روغتون رئيس هم وو او لږ څه اسنادونه يی په لاس کي وه.

دوي لاړل او ديوي پخواني ډاکټري چي څو ورځي مخکي يي دنده خوشي کړي وه شعبي ته ننوتل زه پو شوم چي دا يوه نوي ډاکټره ده چي اوس په دنده وګمارل شوه.

زه په يوه څوکي کي ناست وم چي ريس مي مخي ته ودريدي زه ژر پاڅيدم او السلام مي ورکړي تر جواب راکولو وروسته يي وويل زبيره زه تا ددې دندی څخه ليري کومه زه حيران خو ډير خواشينی شومه او ومي ويل ولي ما څه کړي دي؟

هغه وويل نه تا هيڅ ندي کړي خو ددی دندی څخه دی بلې دندې ته تبديل کومه که چيري ستاخوښه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومي ويل ولي نه صاحب.

ويل راځه راپسي راشه زه هم ورپسي شوم او دهغې ډاکترې چي نوي راغلي وه شعبي مخي ته يي بوتلم او هلته يوه څوکي وه اشاره يي څوکي ته وکړه ويي ويل ته به دلته ناست وي او هغه ناروغان چي دې ډاکترۍ ته راځي ته به يي په نوبت سره اجازه ورکوي او فکر کومه چي ستا به دا دنده تر صفا کاري خوښه شوي وي؟

ومي ويل هوو ولي نه بيخي زيات خوشاله شومه خداي دي خير درکړي.

ريس لاړي او زه د ډاکترې کوټي ته ورغلم السلام مي ورته ووايي هغې هم راته وکتل او په ټيټ غږ يي جواب راکړي خداي شته چي دې انداز يي زيات خوند راکړي تلوسه مي شوه چي خبري ورسره زياتي کړمه په شعبه کي چوپتيا خپره وه تر څو چي دا چوپتيا دهغې ښکلي او نازک اواز پدې الفاظو سره ماته کړه چي ويي ويل وبخښي تاسو څوک ياستي؟

زه ستاسو خدمتګار يمه او نه پوهيږمه چي څه ورته وايي هغه کس يمه چي دکوټي مخي ته مو ناست وي او خلک په نوبت سره تاته راولي.

هغې په کټکټ سره وخندل ښښه سمه ده نو پوشومه مکر ته دلته څه کوي اوس خو بايد چي دکوټي مخي ته وي؟

همممم سمه ده اوس به لاړشمه مکر ما غوښتل چي لومړي ستاسو سره معرفي شمه او خپله ډاکتره په ښه توګه وپيژنم بيا به وروسته خپل کار ته ادامه ورکمه.

ويل ښه نو سمه ده زمانوم حسينه دي او د طب پوهنځي څخه په اتمه درجه فارغه شوې يمه او فکر کومه چي همدوره بسنه کوي زما پيژندنه.

هممم هوو بسنه کوي لاړم او دشعبي مخي ته کښيناستم له جيب نه مي بلوتوت کوشکي وايستي او يوه غوږ کي مي کيښودي يوه ارامه او احساساتي سندره مي ورباندي ونيول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماښام شو او کور ته راغلو دا زيري مي په زينب باندي وکړي هغه هم ډيره خوشاله شوه او مبارکي يي راته وويل.

شپي او ورځي تيريدي ما هم له حسيني سره ښه عادت کړي وو کله به چي پوشوم چي نور ناروغان نه راځي نو شعبي ته به ورغلم او خبري به مي ورسره کولي هغه هم ډيره خوش اخلاقه او نرم مزاجه وه له ماسره به يي ډيري خبري کولي او ټوله ورځ به مو سره خندل کله به چي ماښام کور ته ولاړو نو په تليفون کي به مو تر ډيره وخته کيسي کولي يو بل مو ښه پيژندل.

په کومه ورځ چي به مو خبري ونکړي نو ځان به مي ډير يواځي او بي ارزښته احساسوي ځکه يواځني کس چي ماته ترټولو ملګرو او اقرباوو نږدې شوي وه هغه حسينه وه.

هغې هم بل خاص اوځانګړي ملګري نه درلودی نو ځکه يی ډير وخت له ماسره تيراوه.

نور نو څه وو ايمه زما او حسيني ملګرتيا په مينه بدل شوي وه هغې زما لپاره هرڅه کول او ما د هغې لپاره.

پدې شپو او ورځو کي مي د ورور چلند هم لږ څه تغير کړي وه هيڅ يي د پخوا په څير راسره خوږی خبري ټوکي او مسخري نه کولي يواځي به يي زما د ضروري خبري جواب په هو او يا سره راکاوه زه هم ډير نه شله کيدم ځکه ما مي د خپلو خبرو او رازونو لپاره حسينه پيداکړي وه.

خو طاهر به ځيني وخت په لاره او کور کي په تليفون کي ډيري اوږدې خبري کولي او تر خبرو کولو وروسته به ډير خوشحاله معلوميدي.

زما پکښي فکر شو چي دي ولي داسي چلند کوي.

نو يوه ورځ په روغتون کي دواړه ناست وو نو مي موقه برابره وليدل او ورته ومی ويل طاهره ته لږ څه بدل شوي يي د پخوا په څير نه يي چلند دي بدل شوي او ته په تليفون کي دومره زياتي خبري د چاسره کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په غوسه راته وکتل ،تا له څه وخت نه زما څارنه او پالنه پیل کړي ده؟

نه مطلب مي دا نه وو خو بس غوښتل مي چي په ستونزه دی پوشمه کیداي چي زه درسره کومک وکولاي شمه.

هغه راته کتل بیايي ښه په خوږه لهجه راته وویل وروره ولا څه درته ووایه زه در ښخه یوه هیله کومه چي هیڅ چا ته به نه وايي.

زه يي ښه خبرو ته ځیر شومه ځکه چي زه مي په خپل هدف کي کامیابه شومه او طاهر خپل راز راته ویلي.

هغه وویل وروره زه په یوه انجلي باندې مېين شوي یمه پخداي څه ووایم هڅه کومه چي شپه او ورځ ورسره خبري وکمه او ټول وخت يي په خوا کي و اوسمه هغې راته ویل چي زما داسي ته خوښيږی چي لږ خبري او ډير غوسناک يي.

ومي خندل دانو ښنکه تا جوړول غواړي ایا دا غواړي چي ته ټوله کورنی ملګري پريږدی او یواځي ددي سره اوسي او دا ښوک ده ته يي راته وښایه زه به هم د خپل ورينداري سره وپيژنم.

طاهر، یا اوس يي درته نشمه ښودلاي مګر د سم وخت په راتلو يي درته ښومه خو هغه وايي چي یو کس ورته ډير مزاحمت کوي او بيځایه خبري ورته کوي مګر زه به يي هغه کس خامخا معلوممه چی دا به کوم احمق وي که مي هر وخت پیدا کړي نو په هغه ورځ به د هغه کس مرګ تر ژوند ډير خوښ وي.

ما په اوږه وټکاوه وا وا وروره ښومره ښه خو ګوره چي کوم غم راته جوړ نکړي سمه ده.

بیانو زه ورښخه لاړم او پخپل کار مي پیل وکړي .

یوه ورځ مخکې له شپي موږ ته رخصت راکول سو زه او طاهر دواړه یوځای کور ته راغلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



، دروازه مو وټکول څو شیبې وروسته مي پلار دروازه خلاصه کړه السلام مو ورته وویلي او هغه يي هم جواب راکړي خو پلار مي نن بل ډول معلومیده هغه نوي جامي نوي پکړي او ډير ښه چلند کاوه په خوله باندي يي خوږه مسکا خپره وه طاهر ورته وويل ، بابا څه خبره ده نن ډير خوشحاله معلوميږي،بابا وويل هوو تاسي راسي چي زموږ سره پدې خوشحالی کی شریک شي ما او طاهر يو بل ته په حيرانتيا وکتل بيا د پلار سره يوځاي لاړو کله چي دکوټی دروازي ته ورسيدو نو هلته دوې درې ښځي نابلده او اضافه وي دکوټي پرده مي ور پورته کړه لومړي مي پلار بيا ورور ورپسی زه ورننوتم ګورم چي درې کسان نابلده ناست دي موږ ته ولاړ سول او ستړي مسي مو وکړل، بيا مي پلار وويل دوي د زينب لور غوښتلو ته مي راغلي دي موږ دری واړه ډير خوشحاله سوو او دهغوی سره مو پدې اړه ډيري خبري هم وکړي بيا هغوي وويل نور نو موږ ځو لخيره بيا به سبا لخيره راشو تاسي هم ورباندې فکر او مشوره وکړي زه دهغوي سره تر دروازي لاړم او هغوي مي په زيات درناوي او عزت سره رخصت کړه.

دزينب کوټي ته راغلم ګورم چي هغه په داسي حال کي ژاړي چي خپل سر يي په زنګنو باندې ايښی دی او کرار کرار اواز يي زما د راتلو په سبب ودريدي او سر يي راپورته کړي سترګي يي په اوښکو ډکي بانوګان يي په اوښکو لامده وه،ورغلم څنګ ته يي کښيناستم ورته مي کړه،څه شوي دي بابا کوم څه درته ويلي دي او که بله ستونزه ده؟

هغې په ژړغوني او ريږديدلي اواز وويل، ورروه بابا مي هغه خلګو ته په زور سره ورکوي زه دانه غواړم چي اوس واده وکړم بابا ته مو څو ځلي وويلي مګر هغه زما خبره هيڅ نه مني او وايي چي انجلۍ دبل دکور وي خو زما دا ځاي ندی خوښ نوري خبري يي بيا په ژړا کي ورکي شوي او په سلګي سوه اوښکي يي دسترګو څخه په سرو او سپينو باړخوګانو وڅڅيدي مګر هغی يی د پاکولو ځواک نه درلود، ماته ډيره زياته غوسه راغله اواز مي په زوره سو هيڅوک نسي کولاي چي بيله ستا دخوښي دی واده کړي او نه څوک حق لري، زه ځمه او همدااوس د بابا سره خبري کومه ولاړ سوم دکوټي ددروازي په لوري په چابکي روان سومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغی ژر سر اوچت کړي ويي ويل زبيره ودريږه ودريږه زه هم ودريدم مخ مي ورواړوي هغی وويل هيله کومه دبابا سره په سمه سر خلاص که دنرمی ځخه کار واخله جنجال مه ورسره کوه، پدې وخت کي طاهر راغلی ويل داځه حال دي ولي چغي وهي څه کيسه ده؟

زينب ورغلل طاهر يي له لاس څخه ونيوي او د کوټي پاي ته يي بوتلي ماته يي هم اشاره وکړل زه هم ورغلم هغي موږ دواړه مخاطب کړو وه يي ويل ګوري زه تاسي ته زما ه مور جاني امانت يمه تاسي نشي کولاي چي زما بي له خوښي مي کوم چاته د پيسو په بدل کي ورکړي طاهر ورته کتل او خاموش وو زينب ډيري خبري وکړي ترڅو چي موږ دواړه يي تر احساساتو لاندي راغلو طاهر وويل هغه خو سمه ده مګر ستا ولي دا سړي ندي خوښ څه ستونزه لري؟

هغي طاهر ته کتل ډيره معصومه معلوميده ما په غيږکي ونيول او په سينه پوري مي جوغته کړه هغي هم زه ونيولم ورته مي کړه ايا ستا کوم بل څوک خوښ دي هاا؟

هغي سر پورته کړي او هوو يي وويل.

طاهر، څوک دي هغه څومره دي شتمني لري او کنه؟

طاهر ته مي وکتل، لږ صبر وکه انجلي خبرو کولو ته پريږده هغي ته مي وويل هله نو موږ ته يي را وپيژنه چي هغه څوک دي؟

زينب: تاسو خو به راته نه په غوسه کيږي هاا؟

طاهر، نه داته څه وايي څوک دي راته ووايه؟

هغو ويل چي يوسف دي زما سره په مکتب کي راسره دي موږ يو اوبل ډير خوښوو او غواړو چي په راتلونکي کي واده وکړو.

طاهر ته مي وکتل د هغه دمخ قيافه بل ډول شوه ولاړ شو او له کوټي څخه ووتي، ومي ويل زه د طاهر سره په دي اړه خبري کومه مګر ته هيچا ته په دي باره کي څه مه وايه سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړم او خپل کوټې ته راغلم دطاهر سره تر ډېرو خبرو کولو وروسته مي هغه په دې قانع کړي چې زينب واده د يوسف نومي کس سره وشي .

سهار روغتون ته لاړم يوه کافي مي د ځان او يوه مي د حسيني لپاره واخيستل ورغلم او مخې ته يې کښېنستم ستړي مسي مو وکړه هغې وويل:ته څه پوشوي چې زه کاپي غواړم ولاچي زما هم ډېره هوا ورته سوې وه.

همم داسي نو کيداي شي چې ستا يوڅه ته ضرورت وي او ورباندي پونشم؟

سري شونډي يې سره جدا شوي او سپين غاښونه يې ښکاره شوه ويې خندل، ويل ته سم ليوني يې.

لږ څه چف وو بيا ما وويل چي حسيني غواړم چي ستا له کورني سره معرفي شمه ستا څنګه خوښه ده؟

حسينه، چوف او په فکر کې شوه بيا يې په خندني لهجه وويل اوس لاهم وختي دي ته صبر وکه ولي داسي تلوار کوې؟

زبير، ته خو پوهيږې چي زما ورور طاهر څنګه انسان دي هغه دانه خوښوي چې زه د يو نابلده انجلي سره خبري وکړم او هره شيبه ور سره اوسم.

حسينه: سمه ده د سم وخت په راتلو به تا هم د خپلي کورني سره وپيژنم مکر د اوس لپاره نه کيږی هيله کوم مه شله کيږي.

سر مي وښوراوه سمه ده چي هر ډول ستا خوښه وي.

ماښام شو او کور ته لاړو.

تر ډوډي خوړولو وروسته مي زينب ته پام شو چي مخ يې لږ څه سور شوي دي ومې ويل چي دا څنګه وشو؟

هغې ويل چي دا مي پلار په چپلاخه ووهلم ددي لپاره چي زه د هغه بل کس سره کوژده نکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طاهر ته مي وکتل، دا اوس څنګه انسان دي چي په خبره نه پوهيږي کله چي د يوچا يو کس خوښ نه وي نو په زور او جبر خو نشو کولاي چي هغه ورته واده کړو زينب لاړه ووتل موږ هم تر څه وخته ويښ پاتي وو بيا ويده شو.

سهار کله کي هوږ کار ته تلو نو زينب مي راته په مخ کي ودريدل وه يي ويل ورورره ما نن د يوسف دوي کورنی راغوښتي ده او هغه راځي که کيدلاي سي نو ته يا طاهر نن غار ته مه ځي هيله کوم.

طاهر ته مي وويل هغه ويل چي ته مه ځه ما کي فکر وکړي چي هلته خو حسينه يواځی کيږي او زما دنده به څوک مخ ته وړي نو مي طاهر ته وويل نه وروره زه ځمه بلکي ته مه ځه او دلته پاتی شه.

هغه په غوسه وويل چي يوځلي مي وويل چي پاتي شه نور نو مشوري مه راکوه.

ما هم بله خبره ونکړه او بيله کوم دليله پاتي شوم طاهر هم لاړي .

تر لسو بجو پوري انتظار ومه هر کله مه چي زينب وليدلهغه به د يوسف سره په تليفون کي خبري کولي قسم دي په ټوله وينه به مي په جوش راغله ځکه چي هغه پردي نارينه وو او دي بيله کوم خنده ورسره ازادي خبري کولی.

خو بيا چي به مي حسيني ته فکر وکړي چي هغه هم زما لپاره پردي ده او زه ورسره خبري کومه نو ډير به خپل ځان ته وشرميدم او خاموش به شومه.

په لس بجي باندي ميلمانه راغلل نو د افغانانو ميلمه پالنې دي خداي خير پيښوي په کور کي چي هرڅه وه هغه که ددوي خوش يا نا خوښه وه ټول مو ورته مخي ته کيښودل دچا به يي په ليدلو باندي اشتها وسوځيدل خير نو دا زموږ د افغانانو دود وو هغوي هم د باندار او خبرو په منځ کي وويل چي موږ مو د زينب لور د غوښتلو لپاره راغلي يو ما وويل چي ما هلک ندي ليدلي تاسو هغه ندي راوستلي؟

هغوي ټولو وخندل يوه کس ته يي اشاره وکړل ويل دا هلک يعني زوم دي ښه سم يي وګوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما چي ورته وکتل هغه د ډير شرم څخه سترګي لاندي اچولي وي جګ نري او ستايلش ځوان وو.

کتاب مي يوو خواته کېښودي ومي ويل حسيني تروري ته خو هم پخداي چي هيڅ د افغانانو په لوري نه ځي يو ګيلاس اوبه يا کاپي خو راته راوړه بيخي مي ستوني د کتاب په ويلو باندي وچ شو.

هغي وخندل او لور ته يي غږ وکړي يو ګيلاس فلټر اوبه يي مخي ته کېښودی بيا يي مور ورته وويل چي يوه کاپي هم ورته راوړه هغي ماته بد بد وکتل او لاړل پخلنځي کي درب دروب شو فکر مي وکړي چي يو ديګ په ځمکه ولويدي حسيني ته مي وکتل او ومي خندل هغي هم زما سره يوځاي وخندل تر اوبو څښلو وروسته مي بيا کتاب ته ادامه ورکړه ليکل شوي وو.

تر ډيرو خبرو او اترو وروسته مور. هوکړي ته ورسيدو او زينب مو په دوه لکه افغانی باندي يوسف ته په نکاح کي وکړه ټول ډير خوشحال وه او ويل يي چي سبا لخيره به ددي کوژدي په سبب يوه ميلمستيا ونيسو او ټول خپلوان مو خبر کړئ مور. هم ومنل او هغوي لاړل.

زه لاړم او زينب ته مي دا زيري واوروي د هغی زړه ته نه لويدل نو د ډيري خوشحالي څخه يي ژړل ما ورته وکتل زه هم ډير خوشحاله وم ځکه ما د زينب په مخ کي يوه داسي خوشحالي وليدل چي يو مېين د بل مېين څنګ ته ورسيږي څومره هغه په خوشحال کيږي او څه احساس کوي په دي خبره زه ډيرښه پوهيدم ځکه ماهم د حسينی سره همداسي شيبه په فکر کي راوستلي وه فکر مي کوي چي زه به هم همداسي لکه زينب خپلي ميني ته ورسيږم .

مازيګر وو چي روغتون ته لاړم که ګورم زما دندی په ځاي هيڅوک نسته ورغلم د حسيني کوټي ته دننه شوم کله چي دننه شومه طاهر هم هلته ناست وو او حسينه د طاهر په څنګ کي ناسته وه دواړو ته چاي په ميز باندي پرتي وي حسيني ويل په خير راغلي دهغي د خبري جواب مي ورنکړي طاهر ته مي وويل ته دلته څه کوي ها؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولي دلته د راتلو لپاره باید ستاڅخه اجازه واخلم؟

څنګه سوه زینب مو څنګه کړل؟

ومي ویل هغه مو لخیره یوسف ته کوژده کړل.

حسینه ولاړه شول او زه یي په غیږه کي ونیولم مبارکي یي راکړل خدای شته چي د طاهر په مخ کي ډیر وشرمیدم حسیني ته مي په سترګو کي اشاره وکړل چي دا ته څه کوي؟

خو هغي طاهر هم په غیږ کي ونیوي مبارکي یي ورته وویل.

زما له ډیري غوسي څخه مخ سور او شین شو خو هیڅ مي ونه ویل طاهر ته یو زنګ راغلي او هغه بهر ووتي.

حسیني ته نږدی شومه له موټي مي ونیول په کوچ مي کښیناول ورته مي کړه هغه دي نو ولي په غیږ کي ونیوي هاا هغه ستا څه کیږي؟

هغه دا نږدی سوه سترګي یي زما سترګو کي ښخي کړي او په ګیله منه او مینه ناکه لهجه یي وویل هغه پریږده ستا څه کیږم؟

دي خبري یي بیخي ګونګي کړم په داسي اواز مي ورته وویل چي احساسات او مینه پکي نغښتي وه حسیني ته ولي نه پوهیږي زه ستاسره هغه ډول مینه لرم چي د زړه څخه راوځي او روح ته ننوځي په داسي کارونو باندي دی ما غوسه کوي ته باید یواځي زما سره واوسي.

هغه په داسي حال کي چي خپلي څوکي ته روانه شومه وویل بل کیم امر نلري، زما خبره یي سرف نظر وګرځول.

زه هم په څوکي کښیناستم نه امر نلرمه خو یوه هیله لرم.

څنګه هیله؟

سبا زما د خور د کوژدي په ویاړ میلمستیا ده ته هم باید راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغي لوړ وکتل فکر يي وکړي رته يي کړه مګر زه نوي جامي نلرم.

جامي به پيداشي خو چي ته يي ومني.

سمه ده نو سبا لخيره به درشم ځکه چي ستا خبره په ځمکه نشمه غوځولاي.

هممم کاش چي زما هره خبره دي منلای.

افففف تا بيا پيل وکړ ورشه او ناروغان راته راوله.

زه هم لاړم او خپل کار ته مي دوام وکړي.

ماښام شو او کار رخصت شو حسيني ته ورغلم ورته مي کړه راځه چي نن زه درته جامي واخلم هغي ونه منل چي نشمه کولاي ستاڅخه جامي واخلم ځکه چي ستاسو خپل اقتصادي وضيعت ښه نه دي.

خو ما ډير ټينګار وکړي او راضي مي کړه.

هغي ويل چي سمه ده دا يو ناروغ لاهم ګورم بيا به لاړ شو.

زه هم ژر لاړم او د حسابی اداري څخه مي خپل فيشکي يعني د رواني مياشتې معاش او پيسي واخيستي ترڅو حسيني ته جامي واخلم.

يو ملګري چي رضا نوميدي هغه موټر درلودی نو هغه ته ورغلم ومی ويل ياره نن دي موټر زما په کار دي کولاي شي چي رايي کړي؟

هغه ويل ولي نه کيلي يي راکړي، زه او حسينه په موټر کي وو چي طاهر راته زنګ وواهه.

چيري يي چي ورک يي راځه کور ته ځو ناوخته دي.

ومي ويل زه نن لږ څه ناوخته درځم د ځان لپاره لږ څه سودا کومه.

تليفون يي قطع کړي موږ هم د کاليو دوکان ته لاړو هلته ډول ډول جامي وي يوه تر بلي ښکلي وي يوه توره جوړه مي حسيني ته ورکړل چي ته دا وګوره ستاسره سمه ده که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ډيرو جوړو کتلو وروسته مو همدا توره جوړه خوښه کړه دوکاندار ته مي وويل چي قيمت يي څودي؟

هغه ويل اووه زره افغانۍ، زه هيښ پيښ ودريدم ځکه زما ټولي پيسي نهه زره وي فکر مي نه وو کړي چي دومره قيمته جامي دي هم وي نو ددی لپاره چي ونه شرميږم پيسي مي دوکاندار ته ورکړي او حسينه مي موټر ته پورته کړل ډير مي طبيعت خراب شو ځکه چي طاهر به پوښتنه راڅخه وکړي چي دومره پيسي دي په څه ورکړي دي او زه به بي ځوابه يمه.

بل دوکان ته راغلم د ځان لپاره مي څپلي او ځيني نور شيان خوښول چي حسيني وويل ته هم تور رنګ شيان واخله ځکه ستا سره تور رنګ ښه ښکاري .

په ځان کي شرمينده شوم ومي ويل سمه ده چي ته غواړي نو وا به يی خلم دوکاندار وخندل ويل دادی څه ده؟

زه غلي شوم نه پوهيدم څه ووايم خو زما په ځاي حسينی ځواب ورکړي خاوند می دي ولي دي پوښتنه وکړل؟

دوکاندار:نه بس همداسي پوښتنه مي وکړل خداي مو هميشه خوشحاله لرله.

د دوکاندار حساب مي خلاص کړی او حسينه مي کور ته ورسول.

کتاب مي يوه طرف ته کيښودي حسيني ته مي وکتل ولا تروري ته خو په زبير ډيره ګرانه وي.

هغی راوکتل لکه چي زما خبره يي ډيره خوښه شوي وي ماويل چي تروري ايا په تا هم زبير همداسي ګران وو لکه هغه چي څومره ستا ستاينه او صفت کړي دي؟

هغه ويل چي ولا نه پوهيږم خو زما يواځني مقصد د خپل غچ اخيستل وو کي تر اوسه پوري هم ورباندي پښيمانه يمه ما هيڅکله دا فکر نه کوي چي زه به په زبير باندي رښتيا هم مينه شمه او د زړه د تله به ورسره مينه ولرم اواز يي ژړغوني شو او چوف شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هم ساعت ته وکتل د شپې اوه بجې شوې وې حسینې ته مې وویل زه نور ځمه بیا به وروسته لخیره که چیرې ما فارغه وخت پیداکړې رابه شم .

هغې ویل چې ولې سبا نه کیږې؟

نه سبا خو زه خپل کار ته ځمه ځکه چې نن هم نه یمه تللې فکر مې کړې وو چې نن به دا کتاب پاې ته ورسوم مګر ونشو.

هغې ویل چې خیر سبا هم راشه ستا د غار کې څومره پیسې د ورځې کیږې هغه به درکړم مګر سبا راشه.

فکر مې وکړې هغې ډیر په هیله مند نظر راته کتل مګر ما نشو کولاې چې سبا دې هم له کار څخه پاتې شمه ځکه په لندن کې زموږ مشر ریس ډیر خودغرضه سړې وو هیڅ یې د چا ستونزې ته نه کتل نو هې وویل سمه ده سبا که چیرې فارغ شوم نو به راشم د اوس لپاره د خداې په امان کتاب مې ورته په میز کیښود روان شومه کله چې د دروازې څخه وتم نو شا ته مې وکتل هغه کتاب ته ډیر په مینه کتل لکه کې هیڅ یې نه غوښتل چې طاهر او زبیر ته دوکه ورکړې.

زه هم لاړم خپل کور ته چې هلته ګون برټ چې د روسې څخه وو همدلته مو یوه کوټه په دواړو نیولې وه ناست وو ښه راغلاست یې راته وویلې ویل یې یاره ولې دې دومره ځنډ وکړې ؟

وروره ولاچې اوس مې هم زړه نه راغوښتې خو څه وکړم مجبوره شوم.

هغه وخندل ویل یې چې ولې د هغی ښځې لور خو دې خوښه شوې نده؟

ومې خندل نه وروره هغه کتاب ته مې ډیره تلوسه ده چې پوره یې ووایم چې دا په اخیر کې څه شوې دې او زبیر څنګه دوکه او دومره غریب شوې دې؟

ډوډې مو وخوړل لس بجې شوې وې چې ویده شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار وختي راپورته شومه ځکه چي موبایل مي الارم راته ووهي ساعت ته مي وکتل پنځه نیمي بجي وي مګر زما ښځه مخکي جون برټ الارم بند غړي ویل یاره ورشه لمونځ دي وکړه .

زه هم پاتیدم لمونځ مي وکړي باور وکړي کي بیخي ټینګ یخ وو غاښونه مي د یخ له لاسه سره ټک ټک کاوه اوه بجي شوي وي چي جون راکښینستي ناشته مي ورته چمتو کړي وه راغلي او میز ته کښیناستی ویل یي یاره تاسو مسلمانان هم عجبه یاست په دي یخ کي ښنکه کولاي شي چي سهار دومره وختي پاڅي او په اوبو باندي ځانونه لامده کړي؟

په داسي حال کي چي شیدي مي ګیلاس ته اچولي ومي ویل جونه مور. ته خداي همدومره توان او طاقت راکړي دي مور. ته یي په همدی لمونځ کي د زړه سکون ارامي او خوشحالي راکړي ده خیر ته نو کله په دي خبرو پوهیږي هرکله چي وو زه دي خامخا مسلمان کومه انشاالله.

جون هم وویل انشاالله.

ههه ومي خندل بیشکه داغسي زما او زما د خداي تکلاره اختیار کړه بیا وګوره چي څومره نیکمرغه کیږي؟

دواړه راغلو او په کار کولو مو شروع وکړل تر غرمي ډوډي خوړلو وروسته یس راغلي او ویل یي کي نور نو رخصت یاست ځکه ځیني ستونزي مو به یو بل شرکت سره پیداشوي دي هغه مل کوو او بیا وروسته په کار شروع کوو ډوه هفتي یي رنصتي راکړل او د هغه تر ښنګ یي زموږ. د تیرو شوو ورځو پیسي هم راکړي.

ګون ته مي وویل چي هله راځه ژر کوه.

هغه وي چي چیري ځو ؟

د حسیني کور ته ځي راځه نو هله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم قانع شو او دواړه راغلو د حسيني سره مو ستړي مسي وکړل او تر اوږدو خبرو مولو وروسته مي وويل هله نو کتاب راوړه چي وه يي لولم.

حسيني وويل سمه ده مګر تر ما خو ستا ورته تلوار چي ولي؟

ههههه ولاچي ډيره ښه کيسه مو ده.

هغه هم لاړل او کتاب يي راوړي ماهم بي له ځنډه ورباندي شروع وکړل ليکل شوي وو.

دانو هغه ورځ وه کي د زينب خور مي کوژده کيدل په تياري او چمتوالي بوخت وو طاهر هم نن رخصت اخيستي وو په دواړو مو کار کاوه کور مو ښکلي کړي.

ماښام شو او ميلمانه هم راغلل ټول ډير خوشحال ول مګر زما سترګو حسينه لټول زنګ مي ورته وواهه هغی ځواب راکړي ويل يي چي ولي نن دي بيخي ژر و ياديدم؟

هممم مي وکړي ومي ويل ولا نن خو مي هيڅ ليدلي نه يي چيري يي هاا غواړم چي ودي وينم؟

هغي ويل چي ستا د خور په څنګ کي يمه، تليفون زينب ته ورکړه.

سلام يي راکړ تر ځواب ورکولو وروسته مي وويل زينب جاني ګوره حسينه په يوه بهانه دروازي ته راوله چي کوم څوک مو ونه ګورئ هغي هم ومنل.

دروازي سره ولاړ وم چي بږغ شو زبيره زبيره!!!

ماويل دغه يم هغه زينب وه ويل دادي وريندراه مي درته راوستل زه نور ځمه ماويل سمه ده.

حسينه ښکاره شوه په توره تياره کي يي ډيوه شمعه په لاس مي نيولي وه توره جوړه يي په تن وه داسي معلوميدل لکه چي د شپي په تور اسمان کي سپينه او پوره سپوږمي ځليږي د ډيوي نڅاکوونکو لمبو يي نور هم دښايست فيصدي لوړول هغي يو ډول سينګار کړي وو چي زه يي په الفاظو کي نشمه بيانولي بيله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی کي بله خبره ورته وکړم لاسونه مي تري تاوو کړه ځانته مي راجوخته کړل او تر نرمو او وریښمینو لاسونو مي ونیول.

نه پوهیدم کي څه وکړم غوښتل مي چي کاش چي هر وخت دومره راته نږدي وي او ما خپل روح ستا دښایست او جمال په ویالي اوبه کولي.

همداسي دواړه ولاړ وو یو اوبل ته مو په ډیر ځیر او دقت سره کتل ناڅاپه طاهر راغلي.

زه یي په اوږه وټکولم ویل ته څه کوي هاا؟

ما ژر د حسیني لاسونه ایله کړل سر مي لاندي کړل ومي ویل هغه حسینی غوښتل چي زه ورته کوم څه راوړم حسیني ته مي وکتل او په سترګو مي اشاره ورته وکړل هغي هم په ډیر کمال سره هممم وکړي او د نورو خبرو په کولو سره یي طاهر ته قناعت ورکړي چي زه هلته بي له کوم دلیله نه ومه تللي.

بیا زه او طاهر لاړو د نارینه وو سره ناست وو تر څو چي ټول خپلو کورونو ته لاړل.

پلار مي ډیر په غوسه وو ځکه کي داغه ځاي دهغه نه وو خوښ مګر زه او طاهر په دواړو هغه راګرځولي وو.

کله چي ویده کیدو طاهر راته وویل چي زبیره د حسیني څخه لیري ګرځه څو ځلي مي نور هم درته ویلي وو مګر ته نه سړي کیږي.

ما توس په سر واړوه د طاهر خبري ماته تکراري وي او ښه مست ویده شوم.

سهار بیا لاړو خپلو دندو ته حسیني سره مي ولیدل د هغي سترګي لږ سري وي پوښتنه مي وکړل چي دا ولي؟

په ځواب کي یي وویل چي ټوله شپه نه یمه ویده شوي ځکه محفل ډیر ناوخته پاي ته ورسیدي نو خوب مي ډیر کم وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورمخکي شوم ورته مي کړه زه دي له سرو سترګو قربان شم ږغ به دي کړو وو چي ته مي په موټر کي کور ته رسولي وي.

نه هيڅ اړتيا نه وه ځکه چي د همدي ميلمستيا لپاره خو هلته تللي ومه.

ماویل چي ښه سمه ده.

زړه نا زړه مي ورته وویل چي حسيني ته د جمعي په ورځ فارغه يي چي یو ځاي ميلي ته لاړشو؟

هغی په حيرانونکي نظر راته وکتل ويل دا خبره نو له کومه شوه؟

نه که چيري ستا خوښه نه وي نو..دخبرو په مينځ کي یي وويل زبيره! که چيري زما خوښه نه وي لاهم زه درسره ځمه.

له ډيري خوشحالي نه وي ميز په سوک وواهه او بس مي وويل هغي وخندل او له ځان سره يي وويل ته ليوني يي، زه هم د نورو خبرو پرته له شعبي څخه ووتم او خپل کار ته مي دوام ورکړي.

که ګورم چي رضا له لاري څخه تيريدي رضا هم د اطفالو څانګي لوي متخصص ډاکټر وو خو زما ټينګ ملګري هم وو نو مي ورباندي ږغ کړه رضا رضا!

رضا راته وکتل او زما په وړاندي راغلي ويل يي چي بيا څه خبره ده؟

دده د خبري څخه راته معلومه شوه چي سړي لږ څه خسته غوندي دي نو مي وويل نه اوس يي وخت ندي نشمه درته ويلي، هغه بد بد راته وکتل وريځي يي پورته کړي ويل ته خو راخبر یي چي زما نيمي خبري نه خوښيږی نو هله ژر کوه پوره خبره راته ووايه چي اندیښنه مي ورکه شي.

ما هم بي له کومه خنده ورته کړه رضا ،سبا خو جمعه ده نو ستا موټر مي پکار دي ځکه چي زه او حسينه ميلي ته ځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چي په ځينو فورمونو باندي لګياوو ددی خبري په اوريدو يي غوږونه شک ونيول او د سترګو تر کونجونو يي وکتل ويل ډير وران ئي په هغي خو زه يوه مياشت پسي ومه کي خبري يي هم نه راسره کولي او ستا سره ميلي ته ځي؟

په تنظيه لهجه مي ويل ورورره زه خو جادوګر يمه.

هغه د ډايلوګ په قسم وويل موټر خو مشکل نلري ستا په خدمت کي دي مګر زما شرط دادي چي ددي ميلي يو غړي به زه هم يمه.

غټه ساه مي واخيستل شاه او خوا مي وکتل په خف اواز مي وويل سمه ده مګر ددي خبري څخه بايد طاهر هيڅکله خبر نشي.

هغه په اوږده وټکولم ويل بي غمه اوسه او روان شو.

زه هم خوشحاله شومه او د ګمعي د ورځي انتظار مي کوي چي څه وخت به د حسيني سره يو ځاي وخت تير کړم.

خير خو دا شپه او ورځ ددي سره چي ډيره اوږده وه بيا هم تير شول او د جمعي ورځ راورسيدل سهار وختي مي زنګ وواهه او رضا مي د کور مخي ته راوغوښتي هغه هم راغلي د ميلي سامان مو له کوره څخه وباسي موټر کي کښيناستو او مخ د حسيني په کور روان شوو هغه مو هم موټر ته راپورته کړل هغي ماته وويل چي تا خو نه وو ويلي چي رضا هم له موږ سره ځي؟

ما ويل چي څه توپير لري اوس خو دادي خبره شوي.

ددي خوا چي تلو نو موټر رضا چلاوه يوي ليري او اطرافي سيمي ته لاړو چيري چي نه ي

ډير انسانان ول او نه هم بير بار.

ځکه دلته موږ د هيڅ چا تر پوښتني لاندي نه راتلو چي ويلي يي وي چي حسينه مو څه ده او دلته څه کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه مو ساعت تيري وکړي مازديګر وو چي ما وويل نور به نو لاړ شوو ځکه تياره خپريږي او ښار هم ليري دي.

رضا ويل چي لږ به نور هم تم شو ځکه له ډيره وخته وروسته داسي ازادي هوا ته راغلي يو هيڅ مي زړه نه غواړي حسينې هم د رضا خبره تاييد کړل، زه غلي شوم او ددوي په خوښه زه خوښ شوم.

ماښام شو لمونځونه مو هلته وکړل او موټر ته پورته شوو رضا ويل چي د شپي زه موټر نشه چلوي نو ته يي روان کړه زه هم ور پورته شومه او حرکت مي ورکړي.

حسينه او رضا دواړه د شا سيټ ته پورته شوي وو، ما هم موزيک او مستي سندري لګولي وي او ددي دنيا څخه په فکر او خيالاتو کي بيخي ليري تللي ومه.

د موټر سرعت هم ستنه د سل څخه اړولي وه.

ناڅاپه مي د مخ په لوړه هينداره کي وکتل دوي دوو خبري کولي او دواړو ډير زيات خندل ماته هم د حسيني خندا ډير خوند راکاوه خو د رضا سره مي پدي کي بخيلي راغلل ځکه حسينه ماته ډيره ګرانه وه.

خو هيڅ مي ونه ويل، موټر روان وو او لاره يي لنډول خو ما بار بار په هينداره کي دوي ته کتل ومي ليدل چي رضا د حسينې د يوي پښي سره خپل لاس ټچ يا لمس کوي ښه مي سترګي ورته کش کړي چي په تيروتني سره به وي خو هغه دا حرکت هر واري تکراروي چي د حسينې دپښې څخه به يي لاس ووهي او خندل يي.

ماته جالبه داوه چي حسينې هم د هغه ددي حرکت په وړاندي هيڅ عکس العمل نه ښودي او هغي هم ورسره خندل ما هم تر يوه وخته پوري صبر کړي وو خو سړي بيخې تر حد واوښتي او هڅه يي کوله چي حسينه ښکل کړي مخ يي ور نږدی کړي خودهغي خندا ودريدل او خپل مخ يي د هغه ناولي څخه ليري کړي زه لږ څه ډاډه شومه چي هاا دي حسينه يي دي بد اخلاقي ته نه پريږدي مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضا خپل نا وړه حرکتونه بیا هم تکراروله چي کله به يي د حسيني دپښی ښځه یا هم د غاړي ښځه په یوه او بله بهانه لاس ووهي او هڅه يي کوله چي حسینه د هغه په دام کي راشي.

مکر ما موټر ورو کړي او بلاخره مي ودراوه.

له موټر نه ښکته شوم او د رضا دروازه مي خلاصه کړل ورته مي کړه رضا اوس نو ته موټر وچلاوه ځکه چي زه ستړي شومه.

هغه ویل نه ورورہ زه د شپي لاره نه وينم ته ورسه او موړ ورسوه، ما حسيني ته وکتل خو د هغی له سترګو ښځه پوشومه چي هغه هم دغه غواړي چي زه موټر وچلوم.

نو بیرته لاړم او موټر مي روان کړي.

هيڅ مي طبيعت سم نه وو موزیک مي بیخي بند کړي او د موټر هینداري مي ټولي بندي کړي او پورته کړي ترڅو په اساني سره ددوي دواړو ټولي خبري واورم.

مګر دوي دواړه غلي ول او هيڅ يي نه ويل تر لږ مزل کولو وروسته مي ورته وکتل چي رضا د حسيني په ځيګر سر ایښي دي او ځان يي په خوب اړولي دي.

نور مي نو تر واک ووتل موټر مي ودروي او درضا خواته ورغلم ماويل چي در پورته شه او موټر روان کړه.

هغه بد بد راته وکتل ويل ته مي نه ويني چي زه په ښځګه خوند سره ويده وم ولي دي راکښينولم؟

له ډيري غوسي می بږغ کښیناستي ورته مي کړل، هله پاځه نور مي عصاب مه خرابوه موټر روان که هله نوو.

هغه زه ټیله کړم زه لاړم او په یوه ونه کي مي سر ولګیدي او بیهوشه شوي ومه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله مي چي سترګی خلاصي کړي ګنځ ومه او سر مي راباندي څرخيدی ژر راپورته شومه او موټر ته راغلم که ګورم موټر کي هيڅوک نشته.

شا او خواه مي وکتل هيڅوک نه تر سترګو کيدل د موټر دروازی هم خلاصي پاتي وي او د حسيني يوه څپلي هم پاتي شوي وه.

ډير نا رامه شومه نه پوهيدم چي څه وکړم او پدي شپه کي دوي چيري ولټوم ژر د موټر شاته لاړم چي ځيني اوازونه مي تر غوږ کيدل مرسته مرسته!!!

زه هم د ږغ طرف ته په منډه ورغلم ومي ليدل چي رضا په حسيني پسي منډي وهي او هغه ورڅخه ځغلي په ونو او بوټو کي يي سمي منډي هم نشوي وهلي.

نو ماهم ورپسي منډي واخيستي او ناري مي وهلي چي رضا ودريږده ودريږه! خو هغه کله زما خبره اوريدل.

يوځاي حسينه له سټړيا څخه ولويدل او رضا ورپسي ورسيدي نو يي د حسيني په بي عزته کولو شروع وکړل او حملي يي ورسره وهلي څنګه چي هغه ښځه وه نو د نارينه زور يي نه درلودي خو رضا لکه هغه وحشي ليوه چي ګيدړه ليدلي وي په يوه حالت کي يي نه پريښودل او شيطان يي په دماغ باندی مسلط وو.

په حسيني باندي يي د جنسي تيري هڅه کول چي زه هم ورپسي ورسيدم له اوږو مي ونيوي او ورته مي کړل رضا صبر وکه ته څه کوي کولاي شو خبري وکړي؟

مکر هغه بيله کومي خبري په خوله باندي په سوک ووهلم او هلته يي وغورځولم ځکه رضا په جسم او بدن تر ما قوي او پياوړي وو نو مي شااو خواه وکتل يو لوي بوټي مي په لاس راغلي د ځان سره مي وويل چي دي خو هغسي هم په خبره او په سمه نه پوهيږي نو ونيسه همدا يي وخت دي سمدلاسه مي پري واري وکړي او په سر مي وواهه له واري سره يي لويه چيغه وکړه ما هم څو واري نور ورباندي وکړل او سم مي ورته سر غورمه کړي هغه هم هلته بي حرکته پروت وو حسيني ته مي وکتل هغه ژړل او جامي يي ټولي څيري څيري شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي مامي خپل پټو ورباندي خور کړي او روانه مي کړل خو هغی د ډيري وحمه خبري نشوي کولاي موټر ته راغلو اوبه مي ورباندي وشيندلي لږ وخت وروسته بيداره شوه په ژړا يي زه په غيږ کي ونيولم وه يي ويل چي رضا ځنګه ؟

ماويل چي فکر کومه هغه نور مړ شو ځکه سر مي ورته وکوټي.

ماورته وويل چي تاولي په موټر کي د هغه سره خندل او خبري دي ولي ورسره کولي؟

هغي ويل چي زه څه پوهيدم چي دي به داسي وحشي زناور وي ماويل چي هغه ستا له پښي څخه لاس وهي او تا هغه ته هيڅ نه ويل؟

هغي بلکل داخبره راسره ونه منل او ځان يي بلکل بي خبره وښودي خير ماهم نور تکليف ورنکړي او خوشي مي کړل ورته مي کړل چي ګوره اوس خو چي هرڅه کيدل وشول نور نو هيچا ته بږغ ملره پام کوه چي د رضا او زما په اړه کوم چا ته څه ونه وايي.

هغي هم سر وښوراوه او زما خبره يي تاييد کړل.

ما هم سمدستي طاهر ته زنګ وواهه او هغه مي يوه غره ته چي زموږ ښار ته نږدي وو راغوښتي او په تليفون کي مي ټوله کيسه هم ورته وکړل هغه ويل چي سمه ده زه درځمه چاته حال مه وايي.

موټر ته وختو حسيني ته مي وکتل هغه ډيره ويريدلي وه شونډي يي رپيدی او ټول بدن يي ريږديدی ما تصلي ورکړل او ومي ويل چي هيڅ هم نه کيږي مګر ته کوم چاته ونه وايي چي ما رضا وواژه.

هغي ويل چي سمه ده نه وايمه.

ماهم موټر ته حرکت ورکړي سهار تازه لمر راختونکي وو چي د غره لمني ته ورسيدو حسينه مي په موټر کي کښيناول او زه لاړم د غره سر ته وختم هلته طاهر هم راغلي وو او زما په طمعه ناست وو که ګورم حسينه هم راپسي راغلل

(c) ketabton.com: The Digital Library



طاهر کي هغه وليدل ور منډه يي کړل او په غيږ کي يي ونيول هغي هم په غيږ کي ټينګ ونيوي.

ما ورته کتل خو څه مي ونه ويل.

طاهر له حسيني څخه وپوښتل څه شوي دي ته ولي په داسي حال کي يي؟

هغي وويل چي دا زبير زه ميلي ته بوتلم او هلته يي په ما باندي جنسي تيري وکړي او دي حال ته يي ورسولم بيا يي راته وويل چي طاهر ته ووايه چي دا هرڅه رضا وکړل.

طاهر ماته وکتل او په غوسه يی وويل احمقه تا څه کړي هاا‌ا په سوک يي ووهلم او يو داښ يي په خوله کي راته مات کړي.

زه راپورته شومه ومي ويل چي دا درواغ وايي ما داسي څه ندي کړي هغي ته مي وويل چي ته ولي داسي وايي ما خو ستا ژوند وژغوري؟

طاهر بيا راحمله کړل او زما په وهلو يي شروع وکړل ما حسينی ته کتل هغي راباندی خندل او پټي پټي يي چک چکي کولي ما طاهر ته وويل چي هغي ته وګوره هغي زه او ته په جنګ اخته کړو درواغ يي درته وويل مګر طاهر چيري زما خبره اوريدل زه يي وهلم.

نور نو ماته هم درد او غوسه راغلل نو طاهر مي ټيله کړي هغه په شا ولاړي پښي يي وښويدل او د غره د سر څخه لاندي ولويدي لويه چيغه يي وکړل مګر اواز يي ليري کيدي ليري کيدی ترڅو چي اواز يي ورک شو او يو لوي درب وشو لاندي مي ورته وکتل طاهر په وينو کي لت پت پروت وو او هيڅ حرکت يي نه کاوه.

شاته مي حسيني ته وکتل هغه د غره څخه لاندي تللي وه او موټر يي روان کړي مخ په ښار باندی ولاړل.

ما غوښتل چي په طاهر پسي لاندي ورشم تر نيمي غره ورغلم خو له ډيري ويري او وارخطايي څخه مي پښه وښويدل زه هم ورپسي لاندي ولويدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله مي چې سترګي خلاصي کړي لوړه هوايي پکه راته ځرخيدل سپي سپين ديوالونه وه شااو خوا مي وکتل سيروم راته روان وه يوه کړکي خلاصه وه د لمر روښنايي او وړانګي ورڅخه راتللي.

هڅه مي وکړل چې ولاړ شم خو ټول بدن مي درد کاوه او هڅه مي ناکامه شوه.

لږ شيبه پروت وم بيا مي تيره پيښه په فکر کي را وګرځول چې مخکي څه شوي وو ساعت ته مي وکتل لس بجي وي.

نو په يو زحمت مي ځان پورته کړي سيروم مي له لاس څخه وايستي کړکي ته مي ځان پږدي کړي له کړکي څخه مي د روغتون دروازه وليدل چې هلته يوکس څوکيدار هم وو نو فکر مي وکړي چې څنکه به ددي کس څخه پټ ولاړ شم.

ناڅاپه د روغتون په دهليز کي اوازونه شول غوږ مي ورته ونيوي خو دهغوی اوازونه راباندي هيڅ نه بيليدل بلکي هغه يواځي يو ږوږ وو نو مي د کړکي په طرف منډه واخيستل په دي فکر سره چې ما خو دوه قتلونه کړي دي يو رضا اوبل مي خپل ورور طاهر وو چې په غلطي سره مي نه پوهيږم چې ووژی او که ژوندي پاتي دي.

نو د کړکي څخه په ډير زحمت او مشقت لاندي لاړم او د دروازي په لوري روان شومه هلته ور ورسيدم څوکي دار هم هيڅ پوښتنه ونکړل زه هم ډير ژر دروغتون څخه دباندې ووتم لاړم خپل کور ته هلته مي زينب خور يواځي ناسته وه پلار مي وتلي وو زه په ډير بد حالت کي ومه زينب راته وويل چې ته ولي ټپي يي څه شوي دي؟

ما ورته په ډاډه زړه وويل چې هغه مي چې د رضا موټر بيولي وو نو موټر مو ترافيکي پيښه وکړل نو زه لږ څه زخمي شوي ومه هغي هم راباندې باور وکړي لاړم خپلي کوټي ته هلته د طاهر بستر تر اوسه پوري پروت وو باور وکړي چې بيخي ډير مي ورته وژړل او ډير مي ويادېدي.

نه پو هيدم کي هغه مړ وو او که ژوندي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مي حسینه را یاد شوه په غوسه مي تلیفون د جیب څخه راوایستي خو د ټلیفون سکرین مي ټول مات شوي وو لاړم او د زینب څخه مي ټلیفون واخیستي او حسیني ته مي زنګ وواهه تر لږ ځنډ وروسته یي ځواب راکړي په غوسه مي وویل تا ولي درواغ وویل ها؟

هغه پوشوه چي زبیر یم ویل چي اوس زه بل ځاي یم او ستا سره په دی اړه خبري نشمه کولای.

زه دی څه حالت ته ورسولم مګر ته وایي چي دخبرو لپاره وخت نلرم.

هغي ویل ولي څه حال ته مي ورسولي؟

ما هم ورته د زړه د زوره ټوله کیسه وکړه چي ستا د درواغو له امله څه وسوه او طاهر څنګه شو؟

هغي ویل چي سمه ده اوس زه بل ځاي یمه سبا راشه چي په روغتون کي سره خبري وکړو تلیفون یي قطع کړي څو ځلي مي ورته نور زنګونه ووهل مګر ځواب یي رانکړي.

زینب د غرمي ډوډي راوړل ویل چي بابا لږ مخکي وخوړل او لاړي زه اوته به یي یوځاي وخورو.

ما هیڅ ونه ویل.

هغي ویل چي ته نن روغتون ته نه ځي؟

نه نځمه ځکه چي زه لږ ژوبل شوي یمه.

ډوډي مي وخوړل او خپل کوټه کي ناست ومه ډول ډول فکرونه مي وهل چي باید څه وکړم؟

چي ډیري بدي پایلي به مي لیدلي په خپلو فکرونو نو یوه پریکړه مي وکړل چي چي نور به دابښار خوشي وکم او د حسیني سره به تښتم نو مي د سبا انتظار کوي چي کله به سبا شی او زه به د حسینی سره خبري وکړم او دواړه به لاړشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماښام مي خپل ټول سامان ټول کړل او په يوه بيک کي مي کېښودل ماپښين مي يو نوي سيم کارډ ځانته اخيستي وو نو هغه زوړ سيم مي ليري کړي او نوي سيم مي تليفون کي واچوي بيا مې فکر شو چي زينب به څه کوي او پلار به مي څنګه شي؟

په همدي فکرونو کي ومه چي د سهار اذانونو له فکرونو څخه وويستم ولاړ شوم اودس مي وکړي او لمونځ مي ادا کړي خپل بيک مي په څنګ کي ونيوي او پټ دخپلي کوټي څخه ووتم د سراي تر نيمي لاړم خو بيا مې زينب ياده شوه بيرته ورستون شوم دهغي کوټي ته ورغلم په خواږه خوب ويده وه ورنږدي شومه او په تندي باندي مي ښکل کړه هغه ليک مي سر ته ورته کيښودي کوم چي پرون ماښام مي پکي ټوله کيسه ليکلي وه ترڅو چي زينب او پلار مې هم دټولي کيسي څخه خبر شي نو په زړه مي لويه تيږه کيښودل او د کور څخه بهر شوم لاړه او يوه هوټل کي مي دسهار ناري وکړي حسينې ته مي زنګ وواهه ځواب يي راکړي ويل څوک يي؟

ځان مي ور وپيژانده خو هغي تليفون قطعه کړي څو ځلي مي هڅه وکړل چي ورسره په تماس کي شمه مګر شميره يي بلکل بنده شوه نو مي هوډ وکړي او د روغتون په لوري ورغلم هلته مي دحسينې دکوټي د وازه وټکول او ورننوتم خو هلته هيڅوک نه وو موجود بيا لاړم کانټين کي مي وکتل خو هلته هم نه وه زه لاړم او د هغي په انتظار په يوه کرسي کي کښيناستم يو ملګري مي چي عبدالله نوميدي مخ ته ودريدي ويل زبيره څه شوي دي ولي په داسي حال کي يي؟

ما چي مخکي سر ځوړند کړي وو اوس مي راپورته کړي ورته مي کړه اوس مي پوښتنه مه کوه دا راته ووايه چي حسينه چيري ده؟

هغه په انديښنه شو وه يي ويل چي هغه پرون همدلته وه خو ماښام چي کله کور ته تلل نو رييس ته يي وويل چي نور دنده خوشي کوي او لندن ته ځي ستا لپاره يي دا ليک ماته راکړی ويل يي چي دي زما پوښتنه وکړي نو دا ليک ورکړه، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



جیب څخه يي په سپينه ورقه ليکل شوي يو ليک راکړي ماهم په بيړه ورڅخه حمله کړي او په لوستلو مي يي شروع وکړل ليکل شوي وو.

(زبيره!

که څه هم ما ستاسره واقعي مينه درلوده او څو واري مي دا فکر کړي وو چي ستا سره به واده هم وکړم مګر زړ به مي ځان کنټرول کړي او دا فکر به مي بيخي له دماغ څخه حذف کړي ځکه تاسو دوه ورونه هغه څوک ياست کي زما ټوله کورني مو ووژل زما ژوند مو بيخي بي خونده او بي کسه کړي.

هوو زه دعمر لور يمه د هغه عمر لور کوم چي تاسو وويشتي او تور مو يي زما په ورور خالد باندي ولګوي د هغي ورځي څخه مي کوښښ کوي چي څنګه به خپل غچ له تاسو څخه واخلم مګر اوس يي وخت راغلي په تا باندي مي ستا ورور پخپل لاس ووژي اوس نو ته نشي خلاصيدی ځکه کوم چاچي تاسو ته ليک درکړي هغه به اوس پوليسو ته حال ورکړي وي او په پنځو دقيقو کي به ته ونيول شي دا ستا او ستا د کورني سزا ده ځکه تاسو زما کورني د غم په ټغر کښينول زما ورور خالد په دوه ديرش کاله بند محکوم شو پلار مي ووژل شو او زه يواځی پاتي شومه اوس نو ستاسو وار دي خداي دي وکړي چي ددي غم زغملو توان ولري.

ستا مينه حسينه )

تر ليک لوستلو وروسته مي بيخي عصاب خراب شوه ځکه چي خالد خو خپله خپل پلار وژلي وو مګر خپلي خور حسيني ته يي درواغ ويلي وو او موږ يي تورن کړي وو له سترګو مي اوښکي رواني شوي او بدن مي بي سيکه شو خپل تير وخت مي را ياد شو چي حسيني به زما سره وعدي کولي او ليدل به يي راسره، خو اوس هغه هرڅه درواغ وه هغی کوښښ کوي چي موږ دوه ورونه په خپل منځ کي په شخړه شو او دا په دي پلان کي بريالي هم شوه.

ما همدا خبري د ځان سره کولي  چي پوليس مي مخي ته ودريدل او ويل چي زموږ سره راځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما انکار وکړي خوعسکرو په زما په وهلو او کش کولو شروع وکړل ټولو راته کړل عشکرو زه په روغتون کي په کش کولو سره خپل موټر ته پورته کړم لاسونه يي را وتړل او په سر يي توره کڅوړه را وا غوستل زه هم نور ارام کښيناستم ځکه هيڅ مي نشو کولای.

تر لږ مزل وروسته حوزي ته ورسيدو زه يي نظارت نوني ته يوړم هلته يو کس په شخصي جامو کي ناست وو له څهرى ډير غوسه ناک او بي رحمه معلوميدي ويل چي رايي ولي بويي تلم او په يوه کرسي يي کښينولم لاسونه شاته راوتړل هغه قومندان ويل ووايه او هر جرم دي ومنه ځکه چي موږ ستا خبري ثبت کوو.

ما هيڅ ونه ويل هغه کس يوه عسکر ته اشاره وکړل هغه راغلي يو ټوکر يي راته په مخ واچوي او ګرمي اوبه يي راباندي واچولي باور وکړي کي ساه مي بيخي ټفه ودريدل او تنفس مي نشو کولاي بيايي ټوکر ليري کړي زه ټوخ واخيستم هغه قومندان بيا خپله خبره تکرار کړل ماويل چي څه ووايمه وروره ؟

هغه ويل چي دا ووايه کي په حسيني باندي دي جنسي تيري وکړي او خپل ورور طاهر دي ووژى.

زما سترګي رډي رډي راوختي د ځان سره مي وويل چي داخو هم د حسيني شناخته دي په ټوله کيسه خبر دي اوس دي نو د ځان خير غواړه.

ماهم ورته خپله کيسه شروع کړه چي درواغ مي بيخي زيات ورته وويل چي ځان خلاص کړم ځکه ددي کس څخه خلاصيدل ممکن نه وو هغه هم ټوله کيسه په خپل يوه آله کي ثبت کړل رته يي کړل چي ستا کيسه مي واوريدل خو که چيري دي يوه خبره هم درواغ وه نو بيا دي دځان حالت ته ګوره.

هغه لاړي او زه په دي فکرونو کي ډوب شومه چي دابه اوس څنګه کيږي ما څه کول او هغه څه وشول.

له ډيرو سوالونو ځوابونه مي په کار وو مګر ماته چا نشوه کولاي چي زما د پوښتنو ځوابونه راکړي يوي خوا خپل نفس او وجدان ته ملامت ومه ځکه مامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ورور وژلي وو،له بلي خوا مي په دی اندیښنه وه چي حسینه مي له لاسه ورکړه او هغه هم په ناسم پوهاي سره زیاته ژړا راتلل مګر ستوني مي بیخي وچ شوي وو د ژړا کولو توان مي نه درلود لږ وخت وروسته یو عسکر راغلي او زه یي په څوکي کي کیناولم ډوډي یي راته کیښودل حیران شومه ځکه چي زه خو همدا اوس خو غرمه وه روغتون ته تللي ومه دا نو د څه وخت ډوډي وه ساعت مي وکتي هغه د شپي نهه بجي شوي وی.

په فکرونو کي په دی نه یمه پو شوي چي دا وخت څنګه تیر شو.

لاسونه یي راته خلاص کړل او عسکر هم همدلته ولاړ وو ومي ویل وروره ما څه ګناه کړي ده چي دلته مو راوستلم؟

هغهوویل چي دا پوښتني ته باید له ما څخه ونکړي هرڅه تاته خپله معلوم دی اوس دی ډوډي وخوره پنځه دقیقي وخت لري کنه نو بیا یي درڅخه وړم.

زه هم لکه وږی لیوه له غرمي مي څه نه وه خوړلي همداچي ډوډوي مي ولیده نو په خوړولو مي یي پیل وکړي له ځان سره مي وویل دادي اوس مي نو د محبس لوبیا هم وخوړه ولاچي زیات خوند کوي.

تر ډوډي خوړولو وروسته یي غوښتل چي ما بلي کوټي ته یوسي له لاس څخه یي ونیولم تر کوټي چي وتو نو د عسکر وسله مي حمله کړه او په عسکر مي ونیول ومي ویل رانږدی نشي قسم خورم چی وژنم دی

ټول عسکر را ټول شول ماته یي ویل پام کوه چي دا غلطی ونه کړي کنه نو ټول عمر په بند کي تیروي ومي ویل چف شی تاسو زه ولي بي ګناه دلته را وستلي یمه؟

یو قومندان رامخي شو ویل یي چي وسله کښته کړه ګوره په ارامه سره به خبري وکړو ومي ویل مه رامخي کیږه او ناڅاپه مي پري ډز وکړي د قومندان په پښه کی مرمي ولګیده او ولویدي نورو عسکرو په ما را منډي کړي ما هم هسي ډزي پیل کړي او له ویري مي ډزي کولي چي ناڅاپه له شاه څخه یو چا په سر ووهلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زه هم ولويدم زما لاسونه يي بيا راته وتړل او زما په وهلو يي پيل وکړي ټولو سوکان او لغتي راکولي تر څو چي بيهوشه شومه.

کله چي راپورته شومه په څوکي کي تړلي ومه او ټول بدن مي درد کوي زما په مخ يي اوبه وشيندلي په هوش شومه ويل يي ونيسه په خپلو ټولو جرمونو دي اعتراف وکړه کنه نو تر مرګ به دي بدتره کړو ومي ويل د څشي جرم ما هيڅ جرم ندي کړي هغوي بيا زما په وهلو شروع وکړه ويل چي قومندان دي ولي وويشتي ما ويل چي هغه مي په غلطی سره وويشتي ما نه غوښتل چي داسي وشي پدی وخت کي يو بل کس راغلي هغه چي په شخصي جامو کي وو ويل چي وهل بس کړي.

بل سهار يي بيا هغه بلي کوټي ته يوړم او هغه کس راته راغلي راته کتل يي خداي شته چي دي کتلو يي ډير تر تاثير لاندې راوستلم ومي ويل څه دي زه مو ولي بيا دلته راوستلم؟

هغه راته وخندل وه يي ويل ځکه چي نور دي د لاري اخيري پايلي ته ورسيدي.

مطلب دي څه دي؟

راځه چي محکمي ته ځو.

زه يي محکمي ته يوړم هيڅ وکيل مي نه درلودی خو قومندان ډير ښه قضيه مخ ته وړل زما څخه يي ځيني د تيري ورځي پوښتني وکړلی ما هم بيا هغسي ځوابونه ورکړل د هغه قومندان يو وکيل وو چي قضيه يي څيړل هغه بيا وويل چي اوس هم وخت لري رښتيا  ووايه کنه نو د بند او زندان وخت به دي تر ټاکلي وخت لا وځنډيږي.

ما وويل چي زه هيڅ درواغ نه وايمه کوم اظهارات چي مي ورکړي دي هغه مي اخيري خبري دي.

هغه وويل چي سمه ده اوس نو يو عيني شاهد رابولو چي دا خبره واضحه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یوه کس نوم یي یاد کړی او یو خیرن پیرن سړي راغلي په پنجره کي ودریدي لاسونه یي لوړ په پنجره تکیه کړل ماته یي په ځیر ځیر وکتل بیا یي قاضي ته وویل چي هوو همدغه سړي وو چي ما ولیدي.

وکیل وویل چیري دي ولیدي دي او ورور یي په کوم حالت کي وه؟

هغه وویل چي ما کله چي رمه روانه کړي وه د غره په سر مي یوه سیاهي ولیدل کله چي لږ څه ورنږدې شومه نو دا سیاهي دوه شوي زه نور هم نږدې ورغلم ومي لیدل چي دوه انسانان دي چي په خپلو منځو کي یي شخړه دي یو او بل سره تیله کوي تر څو چي یو کس یي د غره څخه لاندي وغورځیده ما رمه پریښودل هڅه مي کوله چي هغه کس ته ورسم خو کله چي زه د غره لمني ته ورسیدم ګورم چي بل هم ورپسي ولویدي خو دا کس له نږدی فاصلي څخه لویدلي وو نو پدي مي یقین شو چي ښايي چي داکس نه وي مړ شوي نو ځکه دا نږدی ته ورغلم کله چي ورغلم نو هغه دا کس وو، ماته یي اشاره وکړل ما هم سترګي لاندي نیولي وي ځکه ما هیڅ امید نه درلودی چي داسي کس دي پیداسي چي موږ یي لیدلي یو، شپونکي زیاته کړل، ما دي کس ته اوبه ورکړي تر چو لږ په خود راشي مګر دي بیهوشه شوي وو بیا هغه بل کس ته ورغلم خو هغه ټوله ټوک ټوک او مړ شوي وو ځکه هغه د غره له سرنه غورځیدلي وو ما هم سمدستي سړک ته ځان ورساوه او یوه موټر چلوونکي ته مي حال ووایه هغه هم سم دلاسه پولیس ته زنګ وواهه او هغه راغلل دواړه یي له دي ځاي څخه یوړل.

وکیل وویل قاضي صاحب همدومره وو.

قاضي ماته وویل چي ایا ته د ویلو لپاره کوم څه لري؟

زه حق پق حیران پاتي شومه چي داڅه وشول اوس خو کار خراب شو نو راسه یو بل چل وکړه،قاضي ته مي وویل چي دا کس شپونکي درواغ وایي دا قومندان ورته پیسي ورکړي دي.

قاضي:که چیري ته دا تور ثابت نکړي نو یوه سزا به دي اضافه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي ته مي په هيله مندي وکتل بيخي بي وسه شوي ومه سترګو مي دا شاهيدي ورکوله چي زه يو قاتل يمه قاتل.

قاضي ته مي وويل قاضي صاحبه هيله کومه ماته بخښنه وکړي دا هرڅه په تيروتني سره وسوه ما د قصده هيڅ ندي کړي قسم خورم ډيري زاري مي ورته وکړي خو هغه وکيل وويل چي زبير يوه بله قضيه هم لري هغه دا چی ده يو د عسکرو ډلګي مشر قوماندان هم په پښه باندي ويشتلي دي بايد قانوني سزا او قانون ورباندي تطبيق شي.

تر ډيرو سوالونو ځوابونو وروسته زه ناکام شومه قاضي څټک وواهه اوفيصلي ته يي ټول متوجي شوه قاضي وويل: داچي دي د خپل ورور قاتل ثابت شو اوعيني شاهد هم خپل اظهارات ورکړل نو ددي په سبب د خپل ورور د قتل په پايله کي زبير په پنځلس کاله بند محکوم کيږي او داچي ده د پوليسو يو قومندان باندي ډزي کړي دي او هغه يي ټپي کړي دي نود هغه لپاره لس کاله بند نور اضافه کيږي او يو تور چي يي بيخي بي بنسټه ثابت شو د هغه له کبله پيځه کاله نور بند اضافه شو چي په پايله کي يي زبير په ديرش کاله بند تيروي او د ښه اخلاقو او چلند په پايله کي کيداي شي چي د بند موده يي کمه شي محکمه پاي ته ورسيده او قضيه بنده شوه.

زه لکه هغه بيوسه موږک چي شاه خوا مي ټولي پيشو ګاني وي او زما د مرګ انتظار يي کاوه زما هيڅ زړه ته نه لويدل مګر دا حقيقت وو چي زه به ديرش کاله بند تيرومه او د زندان په تورو کوټو کي به ناست او له يوه نامعلومه برخليک او ستونزمن ژوند لاري مي په اوږو کي وليدي بيخي له پښو وغورځيدم اعصابو مي ټکان وخوړ نه پوهيدمچي څه وکم تير وخت مي په فکر کي راوستي زما او طاهر ځومره ښکلي او په زړه پوری ژوند وو بيا حسينه مي فکر کی راوستل د هغي سترګو ته په کتلو به مي هر ډول ستونزي شاته غورځولي او د حل لاره به يي خپله راته پيداکيدل مګر اوس بيخي يواځی شوي ومه هيڅوک مي د ډاډګيرني لپاره نه درلوده بيا مي د حسيني هغه ليک را په زړه شو چي دا ټوله د هغی پلان او دهغی غچ اخيستل وو خو د هغی دا ليک مي هم زړه ته نه لويدلي او په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي باور نه کاوه ځکه چي هغي له ما سره زياتهمينه درلوده مګر بيا به مي فکر د طاهر وخبرو ته شو افففف زه نه پوهيدم چي په چا باور وکړم او په چا نه.

عسکر راغلل زما لاسونه يي اولچک کړل له څنګو يي ونيولم او د موټر په خوا يي روان کړمه زه هم چوف او غلي ورسره روان ومه د خبرو لپاره مي هيڅ نه درلوده په موټر کي يي کښينولم او د زندان په تورو تيارو کي يي وغورځولم ډول ډول سزاګاني او شکنجي به يي راکولياو ډير سخت کارونه به يي را باندي کول چي د انسان تر وس او توانبهپورتهوهمګر موږ به کول زما په شان نور کسان هم ول چي په ناسم پوهاوي به يي دلته په کلنو کلنو ژوند تيراوه او د نوري نړي څخه به بي خبره وو هلته مي د وخت په تيريدو سره يوبل کس چي خالد نوميدي پيدا کړي خالد خو بيا دعمر کاکا زوي او د حسينی ورور وو چاچي خپل پلار وويشتي او حسيني ته يي درواغ ويلي وو.

زه ورسره مخامخ شومه له ګريوان نه مي ونيوي ځانته مي کش کړي ومي ويل ولي بيغي ته سړيه ستا له لاسه خو زما ټول ژوند خراب شو هغه په ارامه وويل زبيره صبر وکه صبر وکه دا زندان دي که چيري عسکرو او موظفو کسانو وليدو نو د بند وخت مو نه کميږي راشه دلته راته ټوله کيسه وکه چي ته دلته څه کوي؟

ماهم فکر وکړي چي دي هم په حقه دي له لاسه مي ونيوي او يوه خواته مي يوړوي او ټوله کيسه مي روته له سرنه وکړل کي څه او څنګه پيښ شول.

بيا مي ورڅخه پوښتنه وکړل چي تا حسينی ته څنکه ويلی وو؟

هغه وويل چي هغه وخت زه ډير غوسه ومه ځکه چي زه يي په دوه ديرش کاه بند کي اچولي ومه او ما فکر کاوه چي دا ټوله ستاسو غلطي وه او ټوله پړه مي په تاسي اچولي وه نو ځکه مي حسيني ته وويل چي بابا جان تا او طاهر وويشتي مکر په ما باندي تاوان شو هغی هم قسم وکړي او وه يي ويل چي ترڅو مي دوي هم تر موږ بد تره کړي نه وي په ارامه نه کښېنم او بيا لاړل.

زموږ تر مينځ ډيري خبري وشوي خو د وخت په تيريدو سره ملګري شو او هڅه مو کوله چي دا ددي ځاي څخه ژر تر ژره ووځو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما به هم په فارغه وخت کي د خپل ژوند پیښي او خاطري لیکلي او دا کتاب به مي په دي سبب لیکي تر څو چي حسیني ته ټوله کیسه وکمه او هغه په ربښتیا باندي پوهه شي.

یوه ورځ د زینب له طرفه لیک راغلي چي لیکلي وو زبیره ! کاش کي ته پټ نه وي وتلي ماته به دي هرڅه ویلي وو مکر تا زه یواځی پریښولم هري ستونزي سره.

خیر خو هرڅه چي وو هغه وشول نن زما واده دي باور وکه چي ته او طاهر ورور مي ډیر یادیږي ماته خپل سینکار او راتلونکي ژوند بي له تاسي څخه هیڅ خوند نه راکوي.

هلته زندان ته درغلی ومه مکر ساتونکو اجازه رانکړل چي درسره ووینم خو زه ستاسو ورونو څخه داچي ګیله منه یمه تر هغه ډیره منندویه یمه ځکه تاسو زما سره همکاري وکړل زما ژوند مو جوړ کړي او تاسو زما هرڅه وي.

زه به هڅه وکړم چي زندان ته درشم خو ساتونکو ویل کي له دري کاله بند وروسته کولای شي چي دزبیر سره ووینې نیر خو زه خامخا درځم زما ګرانه وروره.

ستا کشره خور زینب...

دومره مي ورته وژړل چي سترکو مي اوښکي خلاصي کړي ځکه مابايد هغه یواځي نه وي پریښودي بس نو قسمت مو نه وو او په دي بلا واوښتو.

شپي او رځي تیریدي یوکال وروسته یي بل لیک راغلي چي لیکل شوي وي.

د یوسف اخښي له طرفه و زبیر ته.

زبیره پوهیږم چي تادي له خپلي خور زینب سره بي انتها مینه درلوده خو به تا ماته ډیره ګرانه وه هیڅ غم او پریشاني ته مي نه ورکول لاس مي يي یخو او ګرمو اوبو ته نه پریښودي مګر دخداي فیصلي دي چي څوک باید ورباندي راضي شي دوه اوني مخکي دي خور د ولادت په وخت کي خپل روح له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړه او ماشوم يي هم مړ وزيږيدي تا او دزينب نوري کورني ته د زړه صبر غواړم، ووره زه يي د زغملو توان نلرم مګر څه وکړم د الله په ضا او قدر راضي يو.

والسلام.

ددي ليک په لوستلو سم ليوني شومه دماغ مي سکته وخوړه د زينب خبري او دهغي ځواني ددي نه وه چي مړه دي شي بياخو ما هيڅ ونه ليدل او هغه مړه شول نو د ډيري غوسي مي په خالد باندي وهل پيل کړل چي داټوله ته ملامت يی ستا له لاسه زه اوس دلته بند پاتي يمه خو هغه هم زما سره د غم شريکی هڅه کول ما هرڅه دلاسه ورکړل لومړي ورور بيا خور پلار خو مي هسي نه هم چا نه حسابوي.

هيڅ مي له وسه پوره نه وه د زندان تورو ديوالونو ته به مي کتل د زينب او حسيني انځورونه به مي په په تصور کي راوستل او بي له کوم سببه به مي ځيني خندل او ځيني وخت ژړل.

خالد به تل ويل چي زه کله له دي ځايه څخه ووتم نو خامخا به ستا ضمانت په يو بل کس باندي وکمه او يا بدي په يوه بله طريقه راباسم.

نور نو په دي تورتم کي زموږ ژوند روان وو ........

اته ويشت کاله وروسته هينداري

ته ولاړومه او خپله سپينه ږيره مي کوچني کول او په ترتيب مي برابرول چي خالد مي شاته ودريدي وه يي ويل زبيره ژر سه وروره ته څه کوي ؟

ومي ويل سمه ده صبر وکه داسي نو نسمه تللي هلته به ټول خلک ماته انتظار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد: خلګ به نو څوک وي تاته به څوک انتظار کوي؟

ومي ویل زما د تیر وخت یادونه زما ځواني او هغه روغتون چي زه او حسینه به هلته ناست وو او خوږي شیبي به مو تیرولي.

لوي اسویل مي وکړي افففف بیا مي خپل بیک واخیستي او خپل کالي چي دوه جوړي وي پکي واچول خپل کتاب چي پوره کړي مي وو خو لږ هم پاتي وو هغه مي هم واخیستي او په بیک کي مي کینودي له ټولو ملګرو او ناستو کسانو سره مي د خداي په اماني وکړل خالد مي ډیر ټینګ په غیږ کي ونیوي دواړه یو له بل سره وژړل دهغه څخه مي هم رخصت واخیستي بیک مي واخیستي او دعسکرو سره یوځاي روان شومه ټولي فورمي یي تسلیم کړي او زه له زندان څخه ازاد شومه.

پوره اته ویشت کاله تیر شوي وو ښار بیخي بل ډول ښکاریدي لوي لوي تعمیرونه ولاړ وو نوي ماډل موټران ګرځیدل دوه هلکان چي اته کلن معلومیدل یو له بل سره یي لاسونه نیولي وو پټلون او نیکټایي تړلي وو روان ول او په شا یي د مکتب بستي وي زما خپل تیر وخت زما په زړه شو چي زه او طاهر به یوځاي مکتب ته تلو ډیر مي طاهر ویادیدي له سترګو مي اوښکي وبهیدي زه په ملا کړوف او په ریږدیدلي سر روان شومه یوه دوکان ته لاړم هغه پیسي مي له جیب څخه را وویستي چي د حکومت له طرفه راکړل شوي وي لس زره وي ما ویل چي یو تلیفون راکړي هغه ټوله اوسني ټچ یا سمارټ موبایلونه مخي ته راته کینودل ویل یي کوم یو دي خوښ دي؟

وروره زه خو په دي نه پوهیږم یوه ته مي لاس کړي شا او مخ مي یي وکتي خو ناڅاپه مي له لاس څخه ولویدي او په ځمکه یي ټوفونه ووهل مات شو ژر مي را پورته کړي خو هغه له کاره لویدلي وو دوکان دار راته ردي بدي پیل کړي ویل بوډا سړیه لاسونه دي کار نکوي ستا او د موبایل یي سره څه یوه پښه دي دقبر په غاړه ده او یوه دي د کیلي په پوټکي باندي هله ژر کوه ددي تاوان راکړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومي ويل زويه لږ مي د سپيني ږيرى قدر وکړه ښکنځل مه کوه وايه تاوان دي څودي؟

هغه ويل اته زره!!!

سترګي مي ردي ردې راوختي ،داڅه وايي موبايل وګوره او اته زره وکوره هغه ويل ژر سه ددي همدومره قيمت دي چي لياقت يي نلري نو ولي يي ماتوي؟

بيلونه يي راته ښکاره کړل رښتيا هم په اوزره او پنځه سوه يي راوړي وو او په اته زره يي خرڅوي.

ومي ويل زويه زياتي پيسي نسمه در کولي نيمي تاوان به يي ستا وي نيمي زما، خو هغه کس هيڅ دا خبره ونه منل نو مجبوره شومه او اخير مي ورته اوه زره ورکړي او بيله هغه مات تليفون مي بل څه نه رانيول هغه هم په اوه زره.

لاړم او په يوڅه پيسو مي نوي جامي واخيستي او يوه هوټل ته لاړم او په پنځه شپږ ورځي کي ټولي پيسي مصرف شوي هيڅ چا کار هم نه راکاوه پخواني روغتون ته لاړم د هغه روغتون په ځاي باندي اوس يو پنځه ستوري ښکلي هوټل جوړ شوي وو هرڅه بدل شوي وو نه مي ويل چي زه دي په هغه ښار کي يمه نه مي کوم خپلوان درلودل او نه مي کوم ملګري خالد هم بايد يو کال نور په زندان کي تير کړي وي بيا مي راياد شول چي کله زه راوتلم نو خالد راته د يوه کس نمبر راکړي وو چي ددي کس سره معلومات وکړم او خالد د بند څخه خلاص کړمه هغه نمبر ته مي زنګونه ووهل مګر هغه بند وو او هيڅ ځواب يي نه راکاوه.

کله مي چي پيسي خلاصي شوي نو به مي په جومات کي شپه تيرول ډوډي به مي ځيني وخت پيداکړل او ځيني وخت به همداسي وږى ويده کيدم ترڅو چي يوه شپه په يوه کلي باندي ورغلم او د يوه کور دروازه مي وټکول د شپي غوښتنه مي وکړل کور يي ودان چي هرڅه يي راکړل لو ډير ښه خلک وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسيني جاني سمه ده چي ژوند مو ټوله په ستونزو کي تير شو مګر زه بي ګناه ومه او هم طاهر بی ګناه وو دا کتاب چي هر وخت ستاسو لاسونو ته ورسيدي او په ټوله کيسه پوهه شوي قسم دي چي ډير به پښيمانه شي ځکه تا دداسي کس ژوند ور خراب کړي چي په تايي سر قرباناوه.

تا زه د هغه خوبونو څخه را ويش کړمه چي نه مي غوښتل چي راويښ شمه زه دي په هغه کنده کي وغورځولم چي څوک دښمن هم داسي نه کوي زما ژوند زما ځواني ټول په زندان کي د ډبرو په ماتولو او درندو کارونو باندي تير شو.

کله به چي هلته هم ما سپوږمي وليدل نو به مي ښه ډير ورته کتل ځکه سپوږمي مي ستا د ميني يادګار او نښانی نيولي وه.

هرکله به چي باران شو زما او ستا تير وخت به مي را په زړه شو او دا بيت به مي په خوله باندي جاري شو(د يو تللي کس څهره يي را په زړه کړه

باران بيا داسي وريږي لکه زهر )

حسيني جاني قسم خورم چي اوس هم همدومره مينه درسره لرم لکه په لومړي ورځ چي مي ليدلي وي زه اوس هم ستا په وړاندي هغسي احساس لرم لکه څنګه چي مي تاته ويلي وو باور وکه ستا هغه ليک مي تر اوسه پوري ساتلي دي چي تا راته په روغتون کي ايښي وو.

خبري مي ډيري زياتي په زړه کي دي مګر اوس قلم په خلاصيدو دي او د بل قلم د رانيولو توان نلرم.

زه خبر شوي يمه چي ته لندن ته تللي يي مګر اوس ما دغه ځوان علي چي تاته يي کتاب در رسولي دي در ليږلي دي که لږ هم زما سره مينه لري او ما بي ګناه ګڼي نو هيله کومه راسه زما څنګ ته راسه غواړم د مرګ څخه مخکي دي يوځلي ووينم او د پخوا په تير دي په نرمو ويښتانو کي لاس تير کړم او هرکله چي راتللي زما د خوښی هغه سپين جوړه کالي هم په تن کړه او تر ما پوري راسه هيله کومه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله داچي ستا ورور زما سره يوځاي په بند کي وو هغه اوس هم هلته دي تا خو يوائې زه نه بلکي خپل ورور او کورني دي هم يوائې پريښودل که چيري زما په کيسه دي باور نه کيږي نو د خپل ورور خالد څخه يي واوره بيا به پوشي چي زه بي گناه ومه.

زه ستا د راتلو. په انتظار زبير...

دکتاب وروستي پاڼه هم پاي ته ورسيده حسيني ته مي وکتل دسترگو څخه يي دفواري په شان اوښکي رواني وي ځانته مي فکر شو زما هم سترگو کي اوښکي ډنډ شوي وي ځکه زبير خپل سپيناوي وکړي او ځان يي بي گناه ثابت کړي حسينه خپل وجدان ته ډيره ملامته وه په فکرونو کي کښيناستل او د ساعت ټک ټک ته مو غوږ نيولي وو يو دم مي پام شو چي ساعت ته مي وکتل د شپي دولس بجي شوي وي سترگي مي رډي رډي راوختي ځکه ډير ناوخته وو نه مو ډوډي خوړلي وه او نه مو هم خوب کړي وو د کتاب او د زبير دژوند په لوستلو بوخت ومه او هرڅه رانه هير وو.

حسيني ته مي وويل تروري ناوخته دي اوس ويده شه زه سه هم نور لار شم زموږ ليدل په همدي ځاي پاي ته ورسيدل.

هغي په ډکو سترگو راته وکتل ويل ته پوهيږي زبير رښتيا ويل زه پوهيدم چي هغه به زما پلار نه وي وژلي مگر زما ورور خالد زه دوکه کړم رښتياهم زه اوس دومره پښيمانه يم چي خپل ځانته هم نشمه کتلاي.

لوړ يي وکتل لوي اسويلي يي وکړي ناڅاپه ولاړه شوه او ويل چي زه سبا لخيره افغانستان ته ځمه او د زبير سره وينم.

ومي ويل چي لور دي چاته پريږدی هغه خو يوائې کيږي؟

هغه زما لور نده!!!

څه نو دچا لور ده هغه خو تاته په مور باندي ږغ کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوو ماته په مور باندي وايي مګر زما لور نده ځکه زه چي کله لندن ته راغلم لڅ وخت مي په روغتون کي کار وکړي هلته زما ملګري وه چي قابله وه نو هغي ويل چي دا ماشومه يي مور او پلار په روغتون کي پريښودل که چيري يي ته غواړي نو پالنه يي وکړه کنه نو مور يي يتيم خوني ته ليږو ماهم ومنل او تر اوسه يي پالنه او روزنه کومه ما تر اوسه پوري واده ندي کړي کله مي چي دزبير سره مينه پيداشوه نو ما په رښتيا سره مينه کول ځکه هغه ډير نيک او زړور انسان وو دهغه وروسته مي داسي څوک ونه ليدي چي زه دي ورسره خوشحاله ژوند وکړم زه غواړم چي دهغه څنګ ته ورشم هيله کوم ما افغانستان ته بوځه.

زه په ترددود کي شومه بيا مي فکر وکړي کي زه نو هم بيکاره شوي يمه او رخصت يمه نو دلته به څه وکم؟

دزبير تر کيسي اوريدو وروسته مي د هغه ليدي ته هم ډير زړه کيدي نو مي حسينی ته وويل چي سمه ده زه همدا اوس نوم ليکنه انلاين کومه او سبا لخيره به ويزه ترلاسه کړو هغه هم ډيره خوشحاله شوه او د خپل بيک سامان آلاتو په چمتو کولو بوخته شوه ماهم ثبت نام وکړي او سبا نهه بجي مو ويزه او پرواز وو.

حسيني ويل چي نن بايد زموږ کور کي ويده شي ځکه چي ډير ناوخته دي.

نه ترروري خپل کور ته ځمه او ځيني شيان اوجامی مي رااخلم بيا سبا سهار په تاپسي راځم دواړه به يوځاي لاړشو.

هغي هم ومنل زه لاړم خپل کورته خپل شيان مي ټول کړل او ويده شومه.

سهار اته بجي شوي وي چي راپورته شومه ژر ژر مي بيک واخيستي دحسيني کور ته ورغلم خو هغه دبيک سره د کور په حويلي کي ناسته او ماته يي انتظار کوي ډير په هوسه معلوميدل خو څه يي ونه ويل لور يي هم ولاړه وه هغي دخپلي لور څخه رخصت واخيستي ماهم د خداي په اماني په توګه لاس ور وړاندي کړي خو هغي په غيږ کي ونيولم موږ لاړو ټکسي ته وختو او هوايي ډګر ته يي ورسولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلاخره مو پرواز وکړي د څو ساعتو په تیریدو سره د افغانستان هوایي ډګر ته راغلو د الوتکي څخه ښکته شو ټکسي ته پورته شو او سیده د احسان دوي د کور په لوري لاړو حسینی شاه او خوا کتل بیا یي اوښکي په سترګو کي ډم شوي ځکه ددي ښار سره یي تیر یادونه تړلي وو څه وخت وروسته کلي ته ورسیدو احسان ته مي زنګ وواهه هغه هم په ډیره خوشحالي سره دوکر مخي ته را ووتي کور ته لاړو دکاکا او نورو د کور اوسیدونکو سره مي حسینه معرفي کړل.

هغي ویل چي زبیر چیري دي؟

ما ویل چي هغه په یوه هوټل کي دي راځه کي ځو کاکا ته مي وویل چي موږ یوځاي ځو او بیرته ژر راځو هغه هم اجازه راکړل.

د احسان موټر مو روان مړي او هغه هوټل ته لاړو چیري چي مي زبیر پري ایښي وو هوټل ته ورغلو او د زبیر کوټي دروازه مي خلاصه کړل هلته هیڅوک نه وو نو د هوټل د کارکونکو څخه مي پوښتنه وکړل چي هغه کس چیري دي؟

هغوي وویل چي دوه ورځي مخکي بیدشپي حالت ډیر خراب شو ټوخ یي کاوه نو موږ روغتون ته انتقال کړي او اوس به هم هلته وي.

د روغتون ادرس مي ورڅخه واخیستي او په بیړه د روغتون په طرف لاړو حسینی خو اوس لا په ژړا شروع کړي وه .

هلته لاړو او د زبیر پلټني مو وکړي تر څو چي یوه ډاکټر وویل هغه اوس په هاغه لیري اطاق کي دي او په سرطان اخته دي فکر نه کومه چي ډیر وخت به ولري موږ خپلي ټولي هڅي وکړي مګر دسرطان دناروغانو علاج کول ډیر ستونزمن وي.

ددي خبري په لوریدو حسیني د هغه اطاق په لوري منډه کړه موږ هم ورپسي منډي کړي او ورغلو لومړي ما د کوټي دروازه خلاصه کړل هلته په سپین کټ باندي تور او وچ ډنګر سړي زبیر پروت وو د اکسیجن ډبه یي ورته ایښی وه هغه سلګي وهلي یو لاس یي د کټ لاندي ځوړند وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسيني ماته وکتل ويل همدادي ما ويل هوو همدا زبير دي.

هغه ورغله او د زبير لاس يي ونيوي د کټ په يوه څوکه ورته کښيناستل او ږغ يي ورباندي وکړي ويل زبير!!!

زبير سترګي خلاصي کړي سترکي يي لکه د وينو چي ډکي وي سري وي خوله يي خوځول تر ډير موښې وروسته يي وويل حسيني ته راغلي زما ګراني ته راغلي؟

حسيني په سينه پوري ټينګ ونيوي ويل هوو زه راغلم د دواړو د ژړا اوازونه پورته شول.

زبير ويل چي څنګه دي يواځې پريښودم هاا زه خو بي ګناه ومه هرڅه خو رضا کړي وو؟

حسيني اواز په ژړا کي ورک شو او په خوله يي همدا جمله وه زبيره ماته بخښنه وکړه ماته بخښنه وکړه.

زبير هغه لاس چي کينوله پکي وه په ډير زحمت راپورته کړي او دحسيني په وريښتانو يي ننباسي په سپينه ږيره کي يي اوښکي رواني وي يوه خوږه مسکا يي وکړل ويل حسيني ته ولی ژاړي ستانو ټوله ارمانونه پوره شوه خپل مقصد ته هم بريالي ورسيدي بيا يي ټوخي شروع کړي ته پوهيږي اوس هم همهاغسي ښايسته يي ډاکټري.

دحسيني ژړا او خندا ګډه وه دزبير لاس يي ټينګ نيولي وو.

زبير په ټوخي او خبري يي دواړه کولي وويل چي حسيني ماته بخښلي يي ځکه تاهرڅه دخپلي کورني لپاره کړي دي ته هم بي ګناه يي ځکه خالد ته غلطه پوهه کړي يي زما اخيري ارمان خو دا وو چي تا ووينم او مړ شمه مننه چي ماته راغلي زه دي خپلو هيلو ته ورسولم اوس نو ښه په خوشحالی سره مرګ قبلوم.

حسيني ويل نه داسي نه کيږي ته ما يواځي نه سي پريښودي اوس زه راغلي يمه په تا به هيڅ نه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر شونډي رپولی لکه کوم څه چي وايي ما هم ورته غوږ نږدی کړي چي خبري يي واورم خو د هغه په ټيټ اواز کي مي يوائی دا کلمه اوريدل چي (لااله الاالله محمد رسول الله )

بيا يي سترکي نيمي پټي او نيمي خلاصي پاتي شوي د مرګ په خوارږه خوب ويده شو او ددې ناطرسي او نيمکړی دنيا څخه يي مخه ښه وکړل.

## پاي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**